# دافغانستان اسلامی جمهوریت
## دماليي وزارت

# د ۱۳۹۳ مالي کال ملي بودجې




## د ملي کتو لپاره يوه اغيزمنه ، رنه اوپر پايلو ولاړه بودجه

بسم الله الرحمن الرحيم

# د 1393 مالي کال د ملي بودجې لړلیک


| شمیره | تفصـــــــــــــــــیل | صفحه |
|---|---|---|
| | | |
| 1 | د 1393 مالي کال د بودجې د ځغلنده لنډيز | 1-23 |
| 2 | منځ مهاله مالي چوکاټ 1388-1394 | 24 |
| 2 | دپوروﻧﻮ راپور | 25-27 |
| 3 | د بودجې د اجراء اصولنامه | 28-30 |
| 4 | 1392-1393 مالی کلونو د بودجی پرتله | 31-34 |
| 5 | د 1393 کال ملي بودجه | 35-37 |
| 6 | د 1393 مالي کال د ملی بودجې لنډيز او د تمويل سرچيني | 38 |
| 7 | د 1393 مالي کال ملي بودجه او د تمويل سرچيني | 39 |
| 8 | د 1393 مالي کال د ملي بودجې د تمويلی منابعو تفصيل | 40-41 |
| 9 | د 1393 مالي کال عادي بودجه | 42-46 |
| 10 | د 1393 مالي کال پرمختيايي بودجه (اختياري او غيراختياري) | 47-50 |
| 11 | **د پرمختيايي پروژو جدول د ملي پرمختيايي ستراتيژی د سکتوروﻧﻮ پربنسټ** | **51-84** |
| | **د امنيت سکتور** | **51-52** |
| 12 | د کورنيو چارو وزارت | 51 |
| 13 | د ملي امنيت لوی رياست | 51 |
| 14 | د امنيت شورای او د رئيس جمهور د ساتني رياست | 51 |
| 15 | د بهرنيو چارو وزارت | 51-52 |
| 16 | د ملي دفاع وزارت | 52 |
| | **د واکمنی، د قانون د حاکميت او بشري حقوﻧﻮ سکتور** | **52-56** |
| 17 | د اداری فساد پر وړاندې د مبارزې د ستراتيژۍ پر پلي کولو د څار اداره | 52 |
| 18 | د سيمه ئيزو ارګاﻧﻮﻧﻮ خپلواکه اداره | 52-53 |
| 19 | د دولت د رياست دفتر | 53-54 |
| 20 | د چارو د اداري او د وزيراﻧﻮ د شورا دارالانشا | 54 |
| 21 | ستره محکمه | 54 |
| 22 | ملي شورای، مشراﻧﻮ جرګه | 54 |
| 23 | ملي شورای، ولسي جرګه | 54-55 |
| 24 | لوي څارنوالي | 55 |
| 25 | د حج، ارشاد او اوقافو وزارت | 55 |
| 26 | په پارليماني چارو کی د دولت وزارت | 55 |
| 27 | د عدليي وزارت | 55 |
| 28 | د اداري اصلاحاتو او د ملکي خدمتوﻧﻮ خپلواک کميسيون | 55 |
| 29 | د ټولټاکنو خپلواک کميسيون | 55 |
| 30 | د افغانستان د بشري حقوﻧﻮ خپلواک کميسيون | 56 |
| | **د زيربناوو او طبيعي زيرمو سکتور** | **56-66** |
| 31 | د ټولګټو وزارت | 56-59 |
| 32 | د چاپيريال ساتني ملي اداره | 59 |
| 33 | د نوي کابل خپلواک بورډ | 59 |
| 34 | دافغانستان برشنا شرکت | 59-60 |
| 35 | د جيودوزي او کارتوګرافي رياست | 60 |

| شمیره | تفصـــــــــــــــیل | صفحه |
|---|---|---|
| 36 | د کابل ښاروالي | 60-61 |
| 37 | د اوبو رسولو او کانالیزاسیون شرکت | 61 |
| 38 | د ښار جوړولو د چارو وزارت | 61-62 |
| 39 | د اوبو او انرژۍ وزارت | 62-64 |
| 40 | د ټرانسپورټ او ملکي هوانوردۍ وزارت | 64-65 |
| 41 | د مخابراتو وزارت | 65 |
| 42 | د کانونو وزارت | 65-66 |
| | **د پوهنې سکتور** | **66-72** |
| 43 | د لوړو زده کړو وزارت | 66-68 |
| 44 | د پوهنې وزارت | 68-71 |
| 45 | د علومو اکاډمي | 71 |
| 45 | د بدني روزنې او سپورټ ریاست | 71-72 |
| 46 | د ملی رادیو تلویزیون لوی ریاست | 72 |
| 47 | د افغانستان د فوټبال فدراسیون | 72 |
| 47 | د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت | 72 |
| 48 | افغانستان کرکټ بورډ | 72 |
| | **د روغتیا سکتور** | **73-75** |
| 49 | د عامې روغتیا وزارت | 73-75 |
| | **د کرهنې او کلیو پراختیا سکتور** | **75-80** |
| 50 | د کلیو پراختیا او بیارغونې وزارت | 75-77 |
| 51 | د افغانستان ځمکو خپلواکه اداره | 77 |
| 52 | د کرهنې اوبه لګولو او مالدارۍ وزارت | 77-79 |
| 53 | له نشه يي توکو سره د مبارزې وزارت | 79-80 |
| | **د ټولنيز مصؤنيت سکتور** | **80-81** |
| 54 | له طبیعي پیښو سره د مبارزې له پاره د چمتووالي ملي اداره | 80 |
| 55 | د کوچیانو د چارو د همغږۍ کولو ریاست | 80 |
| 56 | د ښځو د چارو وزارت | 80 |
| 57 | د سرحدونو، قومونو او قبایلو د چارو وزارت | 80 |
| 58 | د کډوالو او بیا را ستنیدونکو د چارو وزارت | 80 |
| 59 | دکار، ټولنیزو، شهیدانو او معلولینو د چارو وزارت | 80-81 |
| | **د اقتصادي چارو د اداري او د خصوصي سکتور د پراختیا سکتور** | **81-83** |
| 60 | د مالیې وزارت | 81-82 |
| 64 | د مرکزي احصائیې اداره | 82 |
| 63 | په افغانستان کې د وړو تمویلي سرچینو د ملاتړ له پاره د اسانتیاوو برابرول | 82 |
| 61 | د خصوصي پانګونې د ملاتړ اداره | 82 |
| 62 | د افغانستان د ملي استندرد خپلواکه اداره | 83 |
| 65 | د کنترول او تفتیش اداره | 83 |
| 66 | د اقتصاد وزارت | 83 |
| 67 | د سوداګرۍ او صنایعو وزارت | 83 |
| **68** | **احتیاطي کوډونه** | **83-84** |

## بشپړه کتنه:

د لیږد په لسیزه کې د افغانستان حکومت اقتصادی لرلید خپل بسیا اقتصاد او د بیوزلۍ د کمیدو په لور روانیدل دی. د ټوکیو په کنفرانس کې وړاندی شوی سند تر ډیره بریده د لیږد په بهیرکې د خصوصی سکتور د پراختیا او د کورنی او بهرنیو پانګونو را جذبول دی چې وګړو ته د کار کولو او تلپاتی/ با ثباته اقتصاد لپاره لاره هواره کړی.

په عین وخت کې د بنسټیزو تولیدی پروګرامونو او پروژو (سړکونه، بریښنا، هوائی ډګرونه، د پوهنی او لوړو زده کړو پراختیا، اغیزمن روغتیایی خدمتونه وړاندی کول، د کرهنی او د کلیو پراختیا) د بشپړیدو په موخه چې د کلونو راهیسی پیل شوی دی پاملرنه کول. او هڅه شوی ده چې د مالی امکاناتو په ګټه اخیستنی سره یادی برنامې چې د پلی کیدو په حال کی دی تمویل شی، ترڅو د افغانستان د اقتصادی بنسټ د جوړولو لامل شی او د خصوصی پانګه اچونی زمینه برابر کړی.

1393 مالي کال چې د لیږد د بهیر په پای او د تحول د لسیزی په پیل کې شتون لری، یو بی ساری او په عین وخت کې د مالي فشارونو څخه ډک مالي کال بلل کیږی. د افغانستان ملي امنیتی ځواکونو ته د نړیوالو ځواکونو (ایساف) له خوا د امنیتی مسئولیتونود لیږد بهیر چې د تیرو دوو کلونو راهیسی روان دی د پام وړ اغیزی د هیواد پر اقتصادی او مالي وضعیت باندی اچولی دی.

تر ټولو مهمه دا چې دا دوه بهیرونه په یوه وخت کې منځته راتلونکې دی، یو د افغانستان ملي امنیتی ځواکونو ته د نړیوالو ځواکونو (آیساف) له خوا د امنیتی مسئولیتونود لیږد بهیر او بل د 1393 کال د جمهوری ریاست ټاکنی دی چې د هیواد پر ټولو اقتصادی اړخونو باندی حتی پر نړیوالو مرستو باندی یی هم منفی اغیزه اچولی ده. په عین وخت کې د دواړو بهیرونو بی شمیره ډیر لګښتونه پر دولت باندی مالي فشارونه زیات کړی دی. له بلې خوا د کال منځنی ارزونی پر بنسټ د کورنیو عوایدو کموالی چې د تیرکال په پرتله 9 ملیارده افغانی کموالی ښایي او همدارنګه د مرستندویانو له خوا د بلاعوضه مرستو د کموالی سره سم په 1393 کال کې د دولت بودجې کسر هم زیات شوی دی.

مګر ددی ټولو مسائلو سره سره دولت تل هڅه کړیده ترڅو د هیواد مالي چاری چې د دولتي پروژو او پروګرامونو پلی کیدو ته لاره هواروي خوندي وساتی. او "د یوه باثباته اقتصاد په لور" پالیسي چې د دولتي خدمتونو وړاندی کولو، دولتي پانګوني ، د خصوصی سکتور پراختیا او د کورنیو او بهرنیو خصوصی پانګونو په موخه د ټوکیو او کابل په غونډو کې مرستندویه هیوادنو او مؤسسو ته وړاندی شوه د پلیکیدا په حال کې ده او د پرمختیایي لومړیتوب ورکړل شویو پلانونو په ترڅ کې رانغاړل شوی ده.

د دولت یو شمیر لاسته راوړنی لکه: عادلانه او رڼی ټاکنی، د قانون ټینګښت، حکومتوالی، د مالي نظام یووالی، سوداګریزه بانکداری، د دولتي عوایدو زیاتوالی او د بودجې پلی کیدنه د ټوکیو او کابل په غونډو کې د شویو مالي ژمنو ترلاسه کیدو ته لاره هواروی او د ټاکنو د قانون تصوبیبدل به د جمهوری ریاست او ولایتي شوراګانو خپلواکو او رڼو ټاکنو ته لاره هواره کړی.

د ملکی هوایي چلند قانون چې په دی ورستیو کې تصویب شو د هوایي چلند اداری سره به د هوایی ټرانسپورټ او د بهرنیو پانګونو د راجذبولو په برخو کې مرسته وکړي چې په پای کې به په یاد سکتور کې د کورنیو عوایدو د زیاتوالي لامل وګرځی.

همدارنګه په خصوصي سکټور کې د لیږد بهیر په ترڅ کې د پانګونو راجذبول او د افغانستان د وګړو لپاره د تلپاتی کارموندنی زمینه برابرولو په موخه په کال 1392 کې د پانګونو د هڅولو پالیسي جوړه شوه. په یادی پالیسی کې د کورنی او بهرنی پانګونی په وړاندی شته خنډونه په ګوته او د هغوی د له منځه وړلو لپاره اړونده حل لاری وړاندی شوی. په دی توګه خصوصی سکتور یو ځانګړی فرصت ترلاسه کوي چې په راتلونکی کلونو کې په تیره بیا د 1392 او 1393 کلونو په ترڅ کې د افغانستان د پانګونی په وړاندی بی ساری امتیازونه ترلاسه کړي. یو شمیر امتیازونه او پریکړی چې په دغه سند کې ذکر شوي دي تلپاتی دي او یو شمیر نور د پانګونو سره تړلی دي چې په یادو دوو کلونو کې ترسره کیږي. نوموړی طرحی ته په کتو سره تمه ده چې په افغانستان کې د پانګونی کچه په تیره بیا د کانونو، نفتو، کرهنی او صنعت په سکټورونو کې زیاتوالی ومومی او د هیواد وګړو ته د تلپاتی دندو/ کار لاره هواروی.

په تیرو څو کلونو کې د افغانستان په بودجه کې د روڼتیا زیاتوالی د عامه مالي اداری یوه مهمه لاسته راوړنه بلل کېږی، د بودجې د روڼتیا نړیوالی اداری (IBP) د بودجې د روڼتیا شاخص (OBI) د راپور پر بنسټ د افغانستان بودجه په 2008 کال کې 8 درجې،

په 2010 کال کې 21 او په 2012 کال کې 59 درجو ته رسيدلی وه. د ياد راپور پر بنسټ د افغانستان د بودجې روڼتيا د سويلي اسيا د هيوادونو په ليکه کې دوهم ځای نيولی دی.

ددې لپاره چې 50 سلنه نړيوالی مالي ژمني د لومړيتوب ورکړل شويو پروګرامونو د تمويل په موخه د دولت د بودجې له لارې مصرف شي، په مالي چارو کې اصلاحات او د پراختيايي بودجې د لګولو لپاره وړتياوی لوړلو باندی کار روان دی ترڅو لا زياتی بهرنی مرستې جذب شی

## د ملي بودجې له لاری کارموندنه

افغانستان د بيلابيلو ستونزو د بيلګې په توګه د بيوزليی، بيوزګاری او همدارنګه د پټی بيوزګاری څخه کړيږي، د 2002 کال وروسته له 5.7 مليونه څخه زيات شمير کډوال هيواد ته راستانه شوي دي چې د دندو پر مارکيټ يی ډير فشار اچولی دی. پټه بيوزګاري په کليوالی سيمو کې ډيره ده په تيره بيا د ټولنی کارګره ډله، د خپلواکو دندو څښتنان او هغه کورنی چې په کرهڼيزو چارو بوخت دی تر ډيره بريده د پټی بيوزګاری ښکار ګرځيدلي دي. د 1391 کال د ارزونی پر بنسټ دغه راز بيوزګاری د هيواد 77 سلنه نفوس چې 11.6 مليونه کارګران جوړوی په بر کې نيسی.

مونږ بايد هڅه کړو چې د خصوصي سکټور د ملاتړ، د پانګوالو او نړيوالو مرستندويانو د هڅولو له لارې په هغو پروژو کی چې د دولت د بودجې او مرستندويانو لخوا پلی کيږی د کار وړ خلکو ته د دندو لاره هواره کړو. د کارموندنی کچې لوړولو لپاره مونږ بايد اقتصادی ثبات، داېمن امنيت، اغيزمنه حکومتوالی، پانګونه او بانکي او مشورتي خدمتونو ته لاسرسی ولرو ترڅو کورنيو او بهرنيو پانګونو ته لاره هواره شي. په داسی حال کی چې د بيوزګاری کچه 16.5 سلنی ته رسيږي يوازی دولت نشي کولای چې د بيوزګاری ستونزو ته د پای ټکی کيږدي.

اټکلونه ښايی که چيری حکومت 138,000 اضافي پيسي خرڅي کړي نو د ملي اقتصاد په کچه د کارموندنی يوه زمينه برابريږی. سږکال د دولت لګښتونه د تير کال په پرتله شاو خوا 80 ملياردە افغانيو څخه زيات اټکل شوی دی او په پام کې ده چې که چيری د دولت د لګښتونو کچه بدلون ونه مومي نو د 600 زرو په شاوخوا کې د کارموندني زميني به برابری شي. چې په پايله کې به د بيوزګاری کچه د 16.5 سلنی څخه 11.2 سلنی ته را ټيټه شي.

د کارموندنی کچې زياتوالی به د کورني ناخالصو توليداتو د زياتوالی لامل وګرځی.

د دولت د لګښتونو له لاري د کارموندني لانديني فرصتونه مينځته راځی:

1. د کارموندنی پراخ فرصتونه د دولت په کچه منځته راځی. مزد او تنخواګانی چې د دولت د عادی لګښتونه څخه بلل کيږی هر کال مصرفيږی چې زيات شمير کسانو ته د کار زمينه برابروی. د 1384 کال په پرتله چې د دولتي کارکونکو تشکيل 365900 تنه وو حال دا چې په کال 1392 کې دا شمير 846436 ته رسيدلی دی چې د 1381 کال راپديخوا د حکومت د بنستونو په پراختيا کې يی د پام وړ اغيزه لرله.
2. پراختيايي پروژې چې په بيلابيلو اقتصادي سکټورونو او د بيلابيلو ولايتونو په کچه پلي کيږی د کارموندني فرصتونه زياتوی، د بيلګی په توګه د بنستونو جوړول لکه سړکونه، روغتيايي کلينکونه، ښوونځي، کانالونه او د اوبو بندونه د اقتصادي ودې او د کار موندلو لامل ګرځي.
3. د دولت د بودجې لګښتونه هم په خصوصي سکټور کې د کارموندنی لامل ګرځي لکه څنګه چې د دولت کړنی پراختيا ومومی، توکي او خدمتونه د خصوصي سکټور له خوا وړاندی کيږی، همداشان څومره توکي او خدمتونه چې د دولت لخوا رانيول کيږي د کارمومندني هغومره فرصتونه په خصوصي سکټور کې رامنځته کيږي.

### د 1392 کال اقتصادي کړنې او د 1393 کال وړاند وینه:

د 1388 او 1392 کلونو په جریانکې د افغانستان کلنی منځنی اقتصادی وده 7.8 سلنه وه. د سړي سر عوایدو میلان مخ په زیاتیدو دی چې په 1388 کال کې 439.2 امریکایی ډالر او په کال 1392 کې 647.5 امریکایی ډالرو ته رسیدلی دی او تمه ده چې په راتلونکې کلونو کې لازیات شي.

کورني ناخالصه تولیدات په کال 1391 کې1,028.111ملیارده افغانۍ او په کال 1392 کې1,140.484ملیارده افغانی اټکل شوي وه. د مخکېنیو وړاندوینو پر بنسټ په کال 1392 کې د کورنیو اسمي ناخالصه تولیداتو وده شاوخوا 11 سلنه اټکل شوی وه خو د خصوصي پانګوني، خدمتونو ، کرهنې او صنعت په سکټورونو کې د کمښت له امله د ناخالصو تولیداتو د ودې کچه به 6.5 سلنې ته ورسیږي. د اول ګراف څخه داسې ښکاری چې په تیرو ۷ کلونو کې کورنی ناخالصه تولیدات د ودی په حال کی دی او د خصوصی سکتور ونډه هم زیات وه.




د حقیقي ناخالصه کورني تولیداتو وده په کال 1392 کې د 3.2 ٪ په شاوخوا کې به وي. لکه څنګه چې د افغانستان اقتصادی کړنې/ فعالیتونه د نړیوالی ټولنی د مرستو سره تړلی دی چې د یادو مرستو کموالی او د افغانستان څخه د نړیوالو سوله ساتو ځواکونو وتل پر سوداګری، صنعت او ټولو اقتصادي کړنو/ فعالیتونه مخامخ اغیزه شیندلی ده. او همداشان ددی سره سره د بیوزګاری د کچی سلنه هم مخ په زیاتیدو ده، چې په دې توګه د 1393 کال تر نیمایي پورې د اقتصادي کړنو/ فعالیتونو کموالی به هم د کورنیو ناخالصه تولیداتو پر ودې باندې منفی اغیزه ولري.

د اقتصادی کړنو/ فعالیتونو کموالی، د پانګونو کموالی او د کورنی مارکیټ څخه د بهرنیو پیسو (اسعارو) په تیره د ډالرو وتل هغه لوی لاملونه دی چې د 1392 کال په ترځکې د افغانیو په وړاندې د بهرنیو پیسو (اسعارو) په تیره د ډالرو په بیه کې بدلونونه/ نوسانات راوستل.

د 1392 مالي کال په بهیر کې د افغانیو په وړاندې د بهرنیو پیسو په تیره ډالرو بدلونونه/ نوسانات د یوه امریکایی ډالره بیع د 52 افغانی څخه پیل او تر 56 افغانیو پوری ورسیدل. چې دا کچه د اټکل شوي حالت څخه جګه وه. د پیسو اوسنی پړسوب د سړي سر عاید په وړاندی پر کورني ناخالصه حقیقي تولیداتو اغیزه شیندلي ده او له بلي خوا د دولت لګښتونه هم د اسعارو په بیهکې د توپیر لامل ګرځیدلي دي.

خو دا حالت به د لنډې مودي لپاره وي او د جمهوري ریاست د ټاکنو او د امنیتي مسئولیتونو د بریالي لیږد بهیر وروسته به د پانګوالو شته ننګوني به لرې او د 1393 کال کې به یوځل بیا کورنی او بهرنی خصوصي پانګوني وهڅول شي.

له بلي خوا، دولت دي ته ژمن دي ترڅو هغه پراختیايي او بنسټیزي پروژې تمویل او بشپړی کړي چې اوسمهال یې کار روان دی. د امنیتي حالت په ښه کیدو سره به په لیږي پرتو سیمو کې د هغو پراختیایی پروژو چارې چې د دولت د بودجې له لارې پلي کیږي په تیره بیا بنسټیزی پروژې لکه: د لویو لارو او کلیوالی سړکونو جوړول، د اوبو بندونه جوړول، هوایي ډګرونه جوړول، د روغتونونو او ښوونځیو ودانی جوړول، د کرهنی د پراختیا پروژې، د کلیو د پراختیا پزوژې او ترټولو مهمه دا چې د هیواد د کانونو او صنایعو په سکټور کې (نفت او کانونه) چې د عوایدو زیاتوالی او د کارموندنې لامل ګرځي، ګړندی کړي.

له همدې امله پورتنیو ټکو ته په کتو سره اټکل کیږي چې د 1393 مالي کال په بهیر کې به کورنیو ناخالصه تولیداتو شاوخوا 9 سلنه زیاتوالی ومومي چې1,245.607ملیارده افغانۍ کیږي او د 1392 کال په پرتله د 1393 کال حقیقي ناخالصه تولیداتو وده شاوخوا 3.6 سلنه اټکل شوې ده.

## د 1393 کال لپاره دمالي لرليد لنديز

### تمويلوونکي سرچيني:

.څرنګه چې وړاندې يادونه وشوه چې په اقتصادي فعاليتونو کې کموالی رامنځته شوی دی او دې کار په کورنيو عوايدو باندې هم اغيزه کړې ده خو تمه کيږي چې د ولسمشرۍ د ټولټاکنو او افغان امنيتي ځواکونو ته د امنيت د ليږد د بشپړېدا وروسته به په اقتصادي فعاليتونه کې بيرته ښه والی رامنځته او پانګوال به وهڅيږي چې په افغانستان کې پانګونه وکړي

د پورتنيو موضوع په پام کی نيولو سره، تمه کيږي چې په 1393 مالي کال کې به د کورنيو عوايدو ټوليزه شاوخوا 133.837 ميليارده افغانيو ته (چې د 2.389 ميليارده امريکايي ډالرو سره برابريږي) ورسيږي. چې په دې مبلغ کې به 105.144ميلياره افغانی مالياتي عوايد، 26.855 ميليارده افغانی غيرمالياتي عوايد او 1.45 ميليارده افغانی د معادنو او د کنړ د ځنګلونوعوايد شامل دي. د کورنيو عوايدو تفصيل د بودجې د تمويل په جدول کی ياد شويده.




د عادي او پرمختيايي بودجې د تمويل په موخه د بهرنی مرستو (مرسته کوونکي هيوادونه او موسسې) ټوليز عوايد 268.091 ميلياره افغانی (چې د 4.787 امريکايي ډالرو سره برابرې دي) اټکل شوي دي.

د 1393 مالی کال د بودجی د تمويل لپاره ټوليزه مالی سرچينی 407.528 ميليارده افغانيو ته چې7.277 ميلياره ډالرو سره برابرېږی رسيږی چې په دی کی 5.6 ميلياره افغانی د ساتل شوي (ذخيره) عوايد هم شامل دی. د 20.849 ميليارد افغانی په اندازه چې د 372.314 ميليون ډالرو سره برابريږی کومه مالی سرچينه نلری او د بودجی کسر را ښيی.

### بودجه:

د 1393 مالي کال لپاره 428.378 ميلياره افغانی (چې د 7.649ميليارد ډالرو سره برابريږي) ملي بودجه اټکل شوې ده چې شاوخوا (34 سلنه) کورني ناخالص توليدات تشکيلوي.

د 1393 ملی بودجه د 1392 مالی کال په نيمايی که د ارزول شوی بودجه په پرتله چې 384.244 ميلياره افغانی وه 80.134 ميلياره افغانی (23٪) زياتوالی را ښيی.

د 1393 مالی کال عادی بودجه شاوخوا 280.472 ميلياره افغانی (5.007 مليارده امريکايی ډالر) چې د ملی بودجی 65٪ جوړوی، اټکل شوی. د 1393 مالی کال عادی بودجه د 1392 کال په نيمايی که در ارزول شوی بودجي په پرتله چې 206.585ميلياره افغانی وه شاوخوا 73.887 ميلياره افغانی (36٪) زياتوالی موندلی دی.

د 1393 مالي کال لپاره پرمختيايي بودجه 147.905 ميلياره افغانی (چې 2.641 ميلياره ډالرو سره برابريږي) اټکل شوې ده، چې د ملي بودجي (35 سلنه) جوړوي. د 1393 کال پرمختيايي بودجه د 1392 کال په نيمايي کې د ارزول شوې ملي بودجې په پرتله چې 141.658 ميلياره افغانی وه شاوخوا 6.246 ميلياره افغانی يا (۴٪) زياتوالی موندلی. لومړی جدول د

ملي بودجي لنډيز د سکتور پر بنسټ راښايي، چې تر ټولو زياتي ونډي پر بنسټ ترتيب شوی دی.

لمړی جدول: د 1393 مالي کال ملي بودجه د زیاتو ونډو پر بنسټ:

| شمیره | سکتورونه | په (000) امریکایی ډالرو | | | د مجموعي نودجي سلنه | د عادی بودجي سلنه | د پرمختیایی بودجي سلنه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | عادی | پرمختیایی | مجموعه | | | |
| 1 | امنیت | 3,207,363.8 | 168,341.1 | 3,375,704.9 | 44.1% | 64% | 6% |
| 2 | زیر بناء او طبیعی منابع | 141,624.8 | 940,993.8 | 1,082,618.6 | 14.2% | 3% | 36% |
| 3 | پوهنه | 650,141.9 | 337,170.1 | 987,312.0 | 12.9% | 13% | 13% |
| 4 | کرهنه او د کلیو پراختیا | 35,017.9 | 554,975.9 | 589,993.8 | 7.7% | 1% | 21% |
| 5 | روغتیا | 66,546.1 | 261,815.2 | 328,361.3 | 4.3% | 1% | 10% |
| 6 | حکومتداری او د قانون حاکمیت | 236,228.2 | 83,413.4 | 319,641.6 | 4.2% | 5% | 3% |
| 8 | ټولنیز مصونیت | 396,656.6 | 21,723.9 | 418,380.5 | 5.5% | 8% | 1% |
| 7 | اقتصادی حاکمیت او د خصوصي سکتور پراختیا | 50,254.2 | 123,742.6 | 173,996.8 | 2.3% | 1% | 5% |
| 9 | داحتیاطی کوډونو په ګډون متفرقه کوډونه | 224,607.1 | 149,000.0 | 373,607.1 | 4.9% | 4% | 6% |
| | **مجموعه** | **5,008,440.7** | **2,641,176.1** | **7,649,616.8** | | | |

پورتنی جدول څرګندوي چي د ملي بودجي زیاتره برخه یا (44 سلنه) امنیتي سکتور ته ځانګړې شوې ده، په دوهم ځای کي بنسټونو یا زېربناؤ سکتور ته زیاته برخه یا 14 سلنه د زیربنا سکتور، 12.9% د ښوني اوروزني سکتور، 7.7% د کرني او کلیو پراختیا سکتور، 4.3% د صحت سکتور لپاره ځانګړي شویده. همداراز 5.5% د ټولنیزو خوندیتوب سکتور لپاره چی د ملکی اونظامی متقاعدینو او شهیدانو او معلولینو د حقوقو لپاره ځانګړي شویده.

دې موضوع ته په پام سره چي، د یوه پلوه د 1392 کال مالي بودجه کي کسر یا کموالي رامنځته شوی دی، او د بله پلوه د امنیتي لګښتونو زیاتوالي، په ځانګړې توګه د افغان ځواکونو لخوا د امنیت د مسئولیت پر غاړه اخیستو لګښتونو او د 1393 کال د ولسمشرۍ د ټولټاکنو پر مهال د امنیت ساتلو لګښتونو، د 1393 کال په ملي بودجه باندې زیات مالي فشارونه وارد کړیدي، او له همدې امله دولت د 1393 کال د بودجي د چمتو کېدا په برخه کي یو لړ مالي اقدامات او سیاستونه ترسره کوي، تر څو په مټ سره یې دولت وکړای شي په را روان کال کي د مالي خطرونه د رامنځته کېدو مخه ونیسي.

مالي سرچیني د لومړیتوب پر بنسټ داسي ځانګړې شوې دي چي په لومړي ګام کي هغو پروژو ته لومړیتوب ورکول کیږي چي عملي کار یې د وړاندې څخه پیل شوی دی او اوس د پلي کېدا په حال کي دي. په دوهم ځای کي هغه پروژې راځي چي د داوطلبی او قرارداد ټول مراحل یې بشپړ شوي دي او فزیکي کار یې د پیلېدا په حال کي دی.

نوي پرمختیایي پروژې چي د لومړیتوب او معقولیت لپاره یې دلایل شتون لري په محدوده توګه د 1393 مالي کال په بودجه کي په پام کي نیول شوي دي.

لږ پرمختللي ولایتونه د دولت په لومړیتوبونو کي شامل دي، چي په ټولیزه توګه 11 لږ پرمختللیو ولایتونو او کوچیانو ته 35 میلیونه ډالره او د نورو پاتی 24 ولایتونو لپاره 23 میلیونه امریکایي ډالر د پراختیایی بودجي په احتیاطی کود په پام کي نیول شوي دي ترڅو دغه بودجي په یادو ولایتونو کي د زېربناوې او د لومړیتوب څخه برخمنو پروژو باندې په لګښت ورسیږي. او هیله کیږی چي دغه بهیر د ولاياتو پرمختګ چټک کړي.

د دولت په عادي لګښتونه لکه اجناسو او خدماتو (22) او کسب دارایی (25) کوډونو کی هم کمښت را منځته شوي دي، چی په دی لړ کی هڅه شویده چي د اجناسو او خدماتو په برخه د غیر معقول لګښتونو څخه په جدي توګه مخنیوای شي.

## په تېرو کلونو کي کورني عواید او د 1393 مالي کال لپاره د کورنیو عوایدو وړاندوینه

مالي ټیکاو ته رسېدل د دولت د بنسټیز مالي موخو څخه یوه ده، چي د تېرو څو کلونو راهیسي په دې برخه کي زیات کار شویدی. خو څرنګه چي مخکي یادونه وشوه، د تېرو دوه کلونو راهیسي امنیتي مسئولیت د ایساف ځواکونو څخه افغان ځواکونو ته د لیږد په حال کي دی، چي دا کار له یوه طرفه د دولت د لګښتونو د زیاتوالی لامل شوی دی او له بله پلوه د بهرنیو ځواکونو وتلو په سوداګریز او

اقتصادي فعالیتونو باندي منفي اغیزه کړې ده او  له همدې امله په کورنیو عوایدو کې کموالی رامنځته شوی دیسره له دې چې په تېرو کلونو کې په کورنیو عوایدو کې په کافي اندازه ډېروالی ترسترګو شوی دی، یعني د کورنیو عوایدو د ودې  کچه په 1388، 1389، 1390  او 1391 کلونو کې په ترتیب سره 53.8 سلنه، 26.3 سلنه، 23.6 سلنه او 6.2 سلنه  وه، چې د ودې منځنی حد په دغه کلونو کې 27.5 سلنه وه.

همدارز عواید د ناخالص تولیداتو د سلنې په توګه په 1388 کی له  ٪10.3څخه په 1391 کی 10.5% ته زیاتوالی موندلی دی. دویم ګراف په منځنی موده کې د عوادو میلان څرګندوي.

تر ټولو زیات عواید د نړیوالې سوداګرۍ د  ګمرکي محصول، پر پلور باندې مالیاتو او پر مالیاتو باندې عایداتو له درکه لاست راځی.




د 1392 مالي کال د بودجې د ترتیب په پیل کې 123 میلیارده افغانۍ کورني عواید په پام کې نیول شوي وي، اما د کال په اوږدو کې د عوایدو په راټولولو کې د کموالي له کبله، د کورنیو عوایدو پلان ته د مالي کال په نیمایي کې بیا کتنه وشوه او کورني عوایدو موخه د 123 میلیارده افغانیو څخه 114 میلیارده افغانیو ته را کم کړل شول. د راپوروونو پر بنسټ د روان کال د  تلې میاشتې پورې په ټولیزه توګه 81 میلیارده افغانۍ عواید راټول کړل شوي دي، او په اټکلیزه توګه د کال تر پای پورې به 24 میلیارده نور عواید راټول کړل شي، چې په دی اساس د 1392 کال د پای پورې به شاوخوا 105 میلیارده افغانۍ راټولې کړل شي چې د بیاکتل شوي پلان څخه 9 میلیارده افغانۍ کموالی څرګندوي.

اما طمعه کیږي چې د ټولټاکنو د سرته رسیدو وروسته به په اقتصادي فعالیتونو کې ښه والی راشي،  او د ځینو خوشبینو پلانونو پر بنسټ به کورني عواید په راتلونکي کال کې د یوې ټکنی ودې سره 133.837 میلیارده افغانیو ته  ورسیږي، چې د کورنیو ناخالصو تولیداتو 10.6 سلنه به تشکیلوي.  په دې صورت کې تمه کیږي چې 1393 کال پلان شوي داخلي عواید به د 1392 کال په نیمایي کې د پلان شویو عوایدو څخه 15 سلنه زیاتوالی پیدا کړي. پلان شوي داخلي عوایدو کې مالیاتي عواید، غیر مالیاتي عواید شامليږي چې په دریم ګراف کې ښودل شوي دي.



**د 1393مالي کال د بودجې د تمويل لپاره بهرني مالي سرچينې:**

د 1393مالي کال ملي بودجه له دوه مالي سرچينو څخه (کورني سرچينې او بهرني سرچينې) تمويليږي .په کورني مالي سرچينې کې کورني عوايد شامل دي، چې پورته تشريح شويدي، او د 1393مالي کال بهرني مالي سرچينې چې د هيوادونو او نړيوالو ادارو وړيا مرستي هم پکې شاملي دي، په لاندې ډول دي:

د 1393مالي کال لپاره د بهرنيو هيوادونو او نړيوالو مرستندويه ادارو له خوا ورکړل شوي پيسې 268.091ميلیارده افغانيو چې 4.787ميليارده امريکايي ډالروته رسيږي، چې له دې څخه نږدې 152.106 ميليارد افغانۍ يا (2.716 ميليونه امريکايي ډالره)يې د عادي بودجې د تمويل له پاره اټکل شوي دي او لاندې برخې پکې شاملي دي:

1. په افغانستان کې د امنيتي چارو د ګډې قومانداني مرستي(CSTC-A) ، د امنيتي لګښتونو په برخه کې 110.055ميليارده افغانۍ يا 1.965(ميليارده امريکايي ډالره)اټکل شوي دي.
2. د امنيتي لګښتونو په برخه کې د نظم او قانون د اماناتي صندوق(LOTFA)مرستي 28.722ميلياره افغانۍ اټکل شوي دي.
3. د افغانستان د بيارغوني د اماناتي صندوق (ARTF)مرستي 12.600ميلياره افغانۍ وي، چې د حفظ او مراقبت لګښتونه هم پکې شامل دي.
4. د خدمتونو د وړاندې کولو او د ولايتي ادارو د پياوړي کولو په برخه کې د انګلستان، فرانسي او ډنمارک مرستي د ولايتي ادارو د تقويې او دهلمند ولايت د اوبو لګولو کانالونو پاکول هم په کې شامل دی 728 ميليونه افغانۍ دي.

د پرمختيايي بودجې د تمويل لپاره ټولي بهرنۍ مالي سرچينې نږدې115.985ميلياره افغانۍ يا 2.071 ميلياره امريکايي ډالره دي، چې لاندې برخې پکې شاملي دي:




1. د 1393مالي کال د پرمختيايي بودجې لپاره اختياري وړيا مرستي 18.200ميلياره افغانۍيا 325ميليونه امريکايي ډالره دي
2. غير اختياري وړيا مرستي 95.025 ميلياره افغانۍ يا 1.696 ميلياره امريکايي ډالره دي، چې د 1392مالي کال د پروژو پاتي او انتقالي سرچينې او همدارنګه د 1393مالي کال له پاره د مرستو نوې ژمنې هم پکې شاملې دي.
3. 2.760 ميلياره افغانۍ او يا 49.291 ميليونه امريکايي ډالره د تيرو کلونو پورونه دي.

د پرمختيايي بودجې نږدې 20.849يلياره افغانۍ چې له 372.314ميليونه ډالر سره برابردي (د تمويل سرچينه نه لري او په کسر کې حساب شوي دي .څلورم ګراف د پرمختيايي بودجې د تمويل سرچينيرا ښايي.

لکه چې څرګنده ده، د پرمختيايي بودجې زياتره برخه (64%) يې د وړيا غير اختياري مرستي ، نږدی (14%) يې د اختياری مرستي او نږدی (10%) يې د

کورنيو عوايدو له سرچينو څخه تمويل کيږی ، چې پدې توګه 10% بودجه د تمويل کومه سرچينه نلرى. د تمويل د سرچينو بشپړ جزييات په راتلونکو پاڼو کې په ګوته شوي دي.

## د 1393 مالي کال عادي بودجه:

د 1393کال عادي بودجه 280.472 ميلیارده افغانی اټکل شوي دي چې 5.008 ميلیارده امریکایي ډالرو سره برابره ده، چې د ملي بودجې 65 سلنه او د نا خالصو کورنیو عوایدو 23 سلنه جوړوي. د 1393 مالي کال عادي بودجه د 1392 د کال په نیمایي کې د ملي بودجې د ارزول شوي مبلغ په پرتله چې 206.585 ميلیارده افغانی وې، نږدی 73.887 ميلیارده افغانی یا 36سلنه زیاته شوې ده.له پنځم ګراف څخه معلومیږي چې د عادي بودجې ډیره برخه (54.3 سلنه) د معاشونو او د دولت د کارکوونکو امتیازاتو ته ځانګړې شوې ده او نږدی (27.5 سلنه) د اجناسو او خدمتونو برخې او نږدی(3.1 سلنه) د شتمنيو د لاسته راوړلو او د عادي بودجې (7 سلنه) د شهیدانو، معلولینو او د ملکي او نظامي کارکوونکو د تقاعد د حقوقو لپاره ځانګړې شوې ده.




د ټولې عادي بودجې (8سلنه) د احتیاط او نورو متفرقه کوډونو ته چې د حفظ او مراقبت، د رتب او معاش د تطبیق ، اضطراری حالاتو لپاره احتیاطی پیسې، د دولتي تاسیساتو او سرکونو لپاره ځمکې، د حیرتان د اوسپنې د پټلې اړوند حفظ و مراقبت او عملیاتی لګښت، او نورو مسایلو لګښتونوته شامل دي ځانګړې شوي دي. د ځینې احتیاطی متفرقه کوډونو محسابه زیاتره د لګښتونو د کمولو (صرفه جویی) لپاره په نظر کې نیول شوي دي ترڅو لدې لارې سره بودجه په پلان شوي اصلی مقصدونو باندی ولګول شي.

په عادي بودجې کې ترسره شوي زیاتوالی په لاندې ډول دی:

**دویم جدول د 1392 -1393 کلونود عا دی بودجی پر تله**

| شمیره | سکتورونه | په (000) افغانی | | | د 1392 سلنه | د 1393 سلنه | تو پیر په سلنه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | د 1392 نیمایی کال ارزونه | 1393 | تفاوت | | | |
| 1 | امنیت | 126,567,442 | 179,612,374 | 53,044,932 | 61.3% | 64.0% | 41.9% |
| 2 | حکومتداری، د قانون حاکمیت او بشري حقونه | 10,809,051 | 13,228,781 | 2,419,730 | 5.2% | 4.7% | 22.4% |
| 3 | زیربناوې او طبیعي سرچینې | 3,135,692 | 7,930,991 | 4,795,299 | 1.5% | 2.8% | 152.9% |
| 4 | پو هنه | 33,028,288 | 36,407,945 | 3,379,657 | 16.0% | 13.0% | 10.2% |
| 5 | روغتیا | 3,293,976 | 3,726,581 | 432,605 | 1.6% | 1.3% | 13.1% |
| 6 | کرهنه او د کلیو پراختیا | 1,975,367 | 1,961,000 | (14,367) | 1.0% | 0.7% | -0.7% |
| 7 | تولنیز مصؤنیت | 2,255,787 | 22,212,771 | 19,956,984 | 1.1% | 7.9% | 884.7% |
| 8 | اقتصادي حاکمیت او د خصوصی سکتور پراختیا | 2,704,031 | 2,814,235 | 110,204 | 1.3% | 1.0% | 4.1% |
| 9 | متفرقه او احتیاطی کوډونه | 22,815,406 | 12,578,000 | (10,237,406) | 11.0% | 4.5% | -144.9% |
| | **مجموعه** | **206,585,041** | **280,472,678** | **73,887,637** | | | **35.8%** |

پورتني جدول را ښايی چې د عادي بودجې زیاتره برخه (64%) د امنیت سکتور او 13% یی د پو هنې سکتورته ځانګړې شويده.

په عادي بودجې کې ترسره شوي زیاتوالی په لاندې ډول دی:

1- هغه امنیتي لګښتونه چې د مرسته کوونکو له خوا او په ځانګړې توګه په افغانستان کې د امنیتي لیږد د ګډې قوماندانی (CSTC-A)له خوا تمویلیږي.
2- د لارو، هوايي ډګرونو، ښوونځیو او روغتونونو د حفظ او مراقبت لګښتونه، چې د افغانستان د بیارغونې د امانتي صندوق له خوا تمویلیږي.

3- د لوړو زده کړو وزارت په تشکیل کې د 1860 کسانو له پاره اضافي بودجه ، چې له دوی څخه 700 کسان یې د پوهنتونونو استادان دي.
4- له 500 میلیونه افغانیو څخه زیاتي پیسي د پوهنتونونو د استادانو د حقوقو له پاره.
5- د پوهني وزارت په بودجه کې د 5000 نویو ښوونکو د لګښت لپاره.
6- 173 میلیونه افغانی د ښوونکو د رتبو او معاشونو د لوړوالي له پاره.
7- د تقاعد د حقوقو او د شهیدانو او معلولینو د نوي قانون پراساس، د تیرکال د بودجي په برتله 10 میلیارده افغانیو څخه زیاتي پیسي د شهیدانو او معلولینو د تقاعد د حقوقو له پاره په پام کی نیول شویدي.
8- 2.3 میلیارده افغانی نوري پیسي د متقاعدینو د تیرو کلونو د نا ورکړل شویو حقونو له پاره.
9- د نوي تصویب شوي نورم پر اساس د قاضیانو د معاشونو زیاتیدل او د حج او اوقافو وزارت لپاره د 500 نویو بستونو په پام کی نیول.
10- 112 میلیونه افغانی دهلمند ولایت دلارود ترمیمولواو د یاد ولایت د کانالونود پاکولواوبولګولولپاره

## د 1393 مالي کال پرمختیایي بودجه:

ټوله پرمختیایي بودجه 147.905 میلیارده افغانی اټکل شوي ده چي له 2.641 میلیارده امریکایی ډالرو سره برابریږي چې د نا خالصو کورنیو تولیداتو 12 سلنه جوړوي. د 1393 مالي کال پرمختیایي بودجه، د 1392 مالي کال په نیمایي کال کي ارزول شوی بودجي پراساس له پرمختیایي بودجي څخه چي 141.658 میلیارده افغانی وې، 4 سلنه زیاته ده. چي دغه 4 سلنه زیاتوالی د اسعارو بیعی (ډالر او افغانی) له امله رامنځته شوي ده، په داسي حال کی چي د 1392 کال په نیمایی کی د ارزول شوی بودجي په اساس چي 2.724 میلیارده ډالر کیده د 1393 کال بودجي شاوخوا3 سلنه کموالی را ښيي چي په پورتني جدول کی ښودل شویدهد پرمختیایي بودجي له ټول ټال څخه، 1.746 میلیارده ډالر ( 66 سلنه) غیر اختیاری او 895 میلیارده ډالر ( 34 سلنه)

| دریم جدول : د اختیاري او غیر اختیاري بودجي پر بنسټ د 1392 او 1393 مالي کلونو پرمختیایي بودجه | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| مالي کال | پرمختیایي بودجه | ارقام په 000 امریکایي ډالرو | | | سلنه |
| | | انتقالي | نوی | مجموعی بودجه (انتقالي+نوی) | |
| د 1392مالي کال نیمه ی کال بودجي | اختیاري بودجه | 332,321.13 | 529,421.37 | 861,742.50 | 31.6% |
| | غیر اختیاري بودجه | 558215.331 | 1,304,253.39 | 1,862,468.72 | 68.4% |
| | **د 1392 مجموعه** | **890,536.46** | **1,833,674.76** | **2,724,211.22** | |
| | | | | | |
| 1393 | اختیاري بودجه | 400,452.46 | 494,548.72 | 895,001.18 | 33.9% |
| | غیر اختیاري بودجه | 483,996.23 | 1,262,178.68 | 1,746,174.90 | 66.1% |
| | **د 1393 مجموعه** | **884,448.69** | **1,756,727.40** | **2,641,176.09** | |
| | | | | | |
| د ۱۳۹۲ مالي کال نیمه ی کال بودجي او د ۱۳۹۳ تر منځ توپیر | | (6,087.78) | (76,947.35) | (83,035.13) | |
| دپورته کلونو تر منځ د سلني له مخي توپیر | | -0.7% | -4.2% | -3.0% | |

اختیاري بودجه جوړوي. همدارنګه د 1393 مالي کال پرمختیایي بودیجي نږدي 33 سلنه د 1392 کال په لګښت نه رسیدلي جوړوي چي 67 سلنه یي نوی بودجه ده. انتقالي بودجه د لګښت د رپوټ پر بنسټ د 1392 مالي کال د لیندۍ د میاشتي تر پایه محاسبه شوي ده اما د انتقالي بودجي وروستي ارقام به د 1392 مالي کال د لګښت د رپوټ څخه وروسته محاسبه او چمتو شي او کیدای شي د بودجي د لګښت د کچي د لوړوالي له کبله، انتقالي ارقام بدلون ومومي

هغه بودجوی واحدونه چي زیاته پرمختیایی بودجه لری په څلورم جدول کی ښودل شوي دي.

| څلورم جدول : لس هغه بودجوي واحدونه چې د 1393کال په پرمختيايي بودجه کې زياته ونډه لري | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| شماره | وزارتونه | امريکايي ډالر (000) | | | % له مجموعه پرمختيايي |
| | | انتقالي | نوي | مجموعه | |
| 1 | د ټولګټو وزارت | 175,954.94 | 235,480.00 | 411,434.94 | 15.6% |
| 2 | د کلیو د بیارغوني او پراختیا وزارت | 84,080.08 | 321,900.00 | 405,980.08 | 15.4% |
| 3 | د عامي روغتيا وزارت | 54,065.66 | 207,749.57 | 261,815.24 | 9.9% |
| 4 | د پوهني وزارت | 167,124.36 | 80,514.76 | 247,639.11 | 9.4% |
| 5 | د اوبو او انرژۍ وزارت | 89,576.03 | 96,840.00 | 186,416.03 | 7.1% |
| 6 | دکرهني اوبه لګولو او مالدارۍ وزارت | 45,332.78 | 85,692.89 | 131,025.67 | 5.0% |
| 7 | د افغانستان برشنا شرکت | 23,019.38 | 106,733.00 | 129,752.38 | 4.9% |
| 8 | د کورنيو چارو وزارت | 4,289.31 | 81,200.00 | 85,489.31 | 3.2% |
| 9 | د ماليي وزارت | 21,669.46 | 60,019.68 | 81,689.13 | 3.1% |
| 10 | د لوړو زده کړو وزارت | 36,596.47 | 36,600.00 | 73,196.47 | 2.8% |
| **د 10 ادارو مجموعه** | | **701,708.47** | **1,312,729.90** | **2,014,438.37** | **76%** |
| 11 | احتياطي کوډونه | - | 149,000.00 | 149,000.00 | 5.6% |

د پورتني جدول پر بنسټ د پرمختیایی بودجي 15.6 سلنه د سړک جوړوني او قیر اچوني په برخه کی، 14.4 سلنه د کلیودپراختیا او بیا رغاوني وزارت د کلیواوبانډو د پراختیا او د پروژو د پلي کولو لپاره، 10سلنه د روغتیایی خدماتوچی د افغانستان په بیلابیلو سیمو کی د روغتونونواو کلینیکونو د جوړولو او مجهزولو کی شامل دي په پام کی نیول شوي ده.همدارنګه د 9 سلنی نه ډیره بودجه د مکتبونو او دیني مدارسو دجوړولو او مجهزولو، د کتابونو د چاپ او داسی نور پروګرامونه چی د پوهني او روزني په وده کی رول لری په پام کی نیول شوي دی.

په همدی ترتیب د بریښنایی انرژۍ د ودی او د اوبو د بندونو جوړول او دکرهنی پر مختیا هم په لومړیتوبونو کی دی چی ټولټال 11 سلنه پرمختیایی بودجی د بریښنا او اوبو د بندونو د جوړولو دکار د ادامی، په هیواد کی د بریښنا لینونو د انتقال او د بریښنا د پراختیا د شبکو جوړولو او د بریښنا نوو پروژو د مطالعی لپاره په پام کی نیول شوي دي.

| پينځم جدول: لس بودجوي واحدونه چې د 1393کال په نوی اختياري بودجه کې زياته ونډه لري: | | | |
|---|---|---|---|
| شماره | وزارتونه | 1393 | |
| | | (000) امريکايي ډالر | په نوې اختياري بودجې کی سلنه |
| 1 | د ټولګټو وزارت | 58,360.00 | 11.8% |
| 2 | د عامي روغتيا وزارت | 34,629.00 | 7.0% |
| 3 | د لوړو زده کړو وزارت | 34,300.00 | 6.9% |
| 4 | د اوبو او انرژۍ وزارت | 32,200.00 | 6.5% |
| 5 | د کليو د بيارغوني او پراختيا وزارت | 32,000.00 | 6.5% |
| 6 | د کرهني اوبه لګولو او مالدارۍ وزارت | 29,000.00 | 5.9% |
| 7 | د ترانسپورټ وزارت | 21,100.00 | 4.3% |
| 8 | د پوهني وزارت | 15,175.19 | 3.1% |
| 9 | د کابل ښاروالی | 14,000.00 | 2.8% |
| 10 | د ښار جوړولو چارو وزارت | 11,350.00 | 2.3% |
| **د 10 ادارو مجموعه** | | **282,114.19** | **57%** |

په همدی ډول د مالي محدودیتونو په پام کی نیولو سره د مالی زیرمو په تخصیص کی هڅه شوی ده چی هغه د زیربناوو پرمختیایی پروژۍ چی اغیزمنتیا او د تولید وړتیا ولري تمویل شي. همدارنګه هغه نوی پروژۍ چی خورا زیات د دولت په لمړیتوبونو کی شامل وي په ډیر کمه کچه په بودجه کی په پام کی نیول شوي دي. همدارنګه د کومک کونکو د کمک د جذب لپاره هڅه شوی چی هغه زیر بنایی پروژۍ چی د پلی کیدو په حال کی دي او لومړیتوب لری او همداسی نوی زیربنایی پروژي چی د هیواد په اقتصادی پیاوړتیا او پراختیا کی اغیز منی وی په پام کی ونیول شي.

د پنځم جدول پر بنسټ د اختیاری بودجی ډیره (برخه 58 میلیون ډالر) د ټولګټو وزارت ته د هغه سړکونو جوړولو د کار د ادامی لپاره چی کار پری روان دی او هغه نوي سړکونه چي لویی لاری، ولایتي او دکلیو سړکونه پکی شامل دی او د ټولګټو وزارت لخوا پلي کیږی ځانګړی شوی دي.په همدی ترتیب د ښه روغتیایی خدماتو عرضه کول هم د حکومت په کاري لومړیتونو کی دی او شاو خوا 34 میلیونه ډالر د اختیاری زیرمو نه د عامي روغتیا

وزارت لپاره په پام کی نیول شوي دي ترڅو د روغتونونو او کلینیکونو د کار د پوره کولو چې د جوړېدو په حال کی دي تر ګټه واخیستل شی. او د روغتونونو او کلینیکونو پراختیا چی د په ټولو ولایاتونو کی د ښه او اغیزمن خدمتونو لپاره په پام کی نیول شوی ده.

د زده کړی د نظام ښه والی او پرمختیا به چې د مسلکی او تخصصي بشري زیرمو په رامنځته کولو کی خورا اړین دی، شاوخوا 34 میلیونه ډالر د نوی اختیاري بودجي نه د لوړو زده کړو وزارت لپاره په پام کی نیول شوي او نور 15 میلیونه ډالر په خاصه توګه د لسانس او ماستری او دکتورا بورسونو لپاره د پرمختیایی بودجی په احتیاطی کودونو کی په پام کی نیول شوي دي.د کرهنی پرمختیا هم د دولت په لومړیتوبونو کی ځای لري او شاوخوا 29 میلیون ډالر د کرهنی د وزارت د پروژو لپاره ځانګی شوي دي او شاوخوا 32 میلیون ډالر د کلیو د پراختیا او بیا رغاونی د وزارت لپاره په پام کی نیول شوی دی. د هوای ډګرونو د کار پوره کول او د پوهني پرمختیا او د کابل ښار دننه سرکونه هم د اختیاری زیرمو په ځانګړی کولو کی دي چي په پنځم جدول کی ښودل شوي دي.

| شپږم جدول:10 بودجوي واحدونه چې د 1393کال په نوی غیر اختیاري بودجه کې زیاته ونډه لري | | | |
|---|---|---|---|
| شمیره | وزارتونه | 1393 | |
| | | (000) امریکایي ډالر | د نوې غیر اختیاري بودجې سلنه |
| 1 | د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت | 289,900.00 | 23.0% |
| 2 | د ټولګټو وزارت | 177,120.00 | 14.0% |
| 3 | د عامې روغتیا وزارت | 173,120.57 | 13.7% |
| 4 | د افغانستان برشنا شرکت | 105,733.00 | 8.4% |
| 5 | د کورنیو چارو وزارت | 75,600.00 | 6.0% |
| 6 | د پوهنې وزارت | 65,339.57 | 5.2% |
| 7 | د اوبو او انرژۍ وزارت | 64,640.00 | 5.1% |
| 8 | د کرهنې اوبه لګولو او مالدارۍ وزارت | 56,692.89 | 4.5% |
| 9 | د ملي دفاع وزارت | 55,354.00 | 4.4% |
| 10 | د مالیې وزارت | 51,647.64 | 4.1% |
| **د 10 ادارو مجموعه** | | **1,115,147.7** | **88.4%** |

شپږم جدول هغه 10 بودجوی واحدونه چې په نوی غیر اختیاری بودجه کی زیاته ونډه لري را په ګوته کوي. څرنګه چي لیدل کیږی د غیر اختیاری زیرمو ویش هم د حکومت د لومړیتوبونو پر بنسټ شوی دی او د غیر اختیاري کومکونو زیاته برخه سړکونو د پرمختګ، د روغتونونو او کلینیکونو د جوړولو، د بریښنایی شبکو جوړولو او د پوهني د ودې لپاره ځانګړي شوی ده.

په همدی ترتیب د غیر اختیاری بودجي 23 سلنه د کلیو د پراختیا او بیا رغونی د وزارت لپاره، 14 سلنه د ټولګټو وزارت لپاره، 13.7 سلنه د بریښنا د پراختیا لپاره د افغانستان بریښنا شرکت لپاره ځانګړی شوی دي. نوری اداری چې په لومړیتو کی واقع دي په ۶ جدول کی ښودل شوي دي.

## د 1392 مالی کال مهمې لاسته راوړنې

### د امنیت سکتور:

- د ملی اردو د پیاده، جگړه ایزو او امنتي ځواکونو د لا پیاوړتیا لپاره نور قطعات جوړول او د ملي اردو په لیکو کې ورگډول.
- ددې لپاره چې ملي اردو وکولای شی ترڅو شپنیز او ورځنیز عملیات په خپلواک ډول ترسره کړې د هغوی تجهیز، اکمال او وړتیاوې لوړول.
- د امنیتي لیږد بهیر څلورم پړاو په بریالیتوب سره بشپړ شوه او اوسمهال د ملي دفاع وزارت پر پنځم بهیر باندی کار کوي ترڅو بشپړ امنیتي واکونه ملي اردو ته وسپارل شي.
- یوشمیر سیمې چې مخکې د مخالفینو په ولکه کې وې (په تیره د بدخشان او نورستان په ولایتونو کې) د هغوی بیا ترلاسه کول.
- د بگرام محبس مسؤولیت ترلاسه کول.
- په هغو سیمو کې چې تازه یې امنیتي مسؤولیت افغان امنیتي ځواکونو ته سپارل شوی دی دفاعی او امنیتی مرکزونه جوړول.
- د هیواد لوړپوړو چارواکو د امنیت خوندی کولو په موخه ځانگړی ځواک جوړول.
- د نړیوالې ټولنې په مرسته او امنیتي اړتیاوته په کتو سره د سولې، ټینگښت او د دولتي حاکمیت پاییښت او د قانون پلې کیدا په موخه د ملي پولیسو په تشکیلاتو کې اصلاحات راوستل.
- د سوله ساتو ځواکونو له خوا د امنیتي مسؤلیتونو دلیږد دڅلورم پړاو بشپړتیا.
- د نظامي عملیاتو په ترڅ کیي6514 شمیر د دولت وسله وال مخالفین نیول شوي او 4472 د جگړې پر محال له منځه تللي دي.
- 12077 میله وسله او 35 عراده زغره وال گاډي د لغوه شویو امنیتي کمپنیو څخه راټول شوی دي
- 42055 شمیر جرمونه خنثی کیدل او مخنیوی.
- 1787 شمیر عملیات په خپلواکه توگه پلان او اجرا شوي دي
- د کورنیو چارو وزارت د اپراتیفی هڅو په پایله کې 35 وسله والي مخالفي ډلې د دولت سره یوځای شوي دي.
- د بیلابیلو جامد او مایع کیمیاویتوکو نیول (834688 لیتره الکولي مشروباتې) او د مخدره توکو 95 لابراتوارونه له منځه تللي دي.

### د حکومتداری سکتور:

- د کابینې له خوا د سیمه ایزو ارگانونو، ښاروالانو او ولایتي شوراگانو د قانون د مسودی منظوري.
- د نویو اداري څانگو جوړولو اړوند 4 شخړی او د پولو د په گوته کولو او کلیوالی چارو اړوند د 5 شخړو هوارول .
- د 80 سیمه ایزو شوراگانو جوړول، په بیلابیلو څانگو کی د 34 ولایتی شوراگانو او د ښاروالی گانو د 100 تنو د مالی او اداری څانگو کارکونکو وړتیا لوړول.
- 100 ولسوالانو ته د هند په هیواد ، 12 د والی مرستیالانو ته په فرانسه کی روزنه ورکول او د رتب او معاش ریفورم په 33 ښاروالیگانو کی پلی کول.
- لومړنی محکمې ته 892 دوسیي، استیناف محکمې ته 298 دوسیي او د تمیز محکمې ته 2635 دوسیو لیږد او څیړل.
- د 1392 کال په لومړنیو 6 میاشتو کې 9679 تنه لوړ رتبه او ټیټ رتبه مامورین په دندو گمارل.
- د 1392 کال په لومړنیو 6 میاشتو کی 695 شمیر دوسیی محکمو ته لیږل شوي او څیړل شوی دی.
- د آسیا د محکمو غړیتوب ترلاسه او د یو شمیر بهرنیو هیوادونو د قضایي ارگانونو سره دوستانه او مسلکی اړیکو ټینگول.
- د ملي ستندرد،دولتی قضایاو، د نفوسو سرشمیرنې او د کار قانونونه تصوبیول.
- د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د تشکیل، دندو او صلاحیتونو د قانون طرحی جوړول.

- د لوړو زده کړو مؤسسو قانون د طرحی جوړول.
- د 1392 کال ملي بودجه تصویبول.
- پر عایداتو باندې د مالیاتو د قانون 102 مادی تعدیلول.
- د حقوقي او فقهي ستونزو د لري کولو په موخه د علماؤ د ټولنې له خوا 15 فتواګاني صادر شوي دي.
- د قرآن کریم په کورنیو او بهرنیو سیالیو کې د حافظانو ګډون
- د حاجیانو تنظیمول او حج ته لیږل.
- 67.45 میلیون افغانۍ د اوقافو اداری حساب ته د تهجایی په موخه انتقالول.
- 12 کاندید وزیران ولسي جرګې ته د باور رایې اخیستلو په موخه ور وپیژندل شول او د رای ورکولو په موخه د یوی مناسبی فضا جوړول.
- د ملي شورا د دواړو مجالسو د غونډو پریکړی په ټولو وزراتونو او خپلواکی ادارو کی تعقیبول.
- د ملی شورا غړو لپاره د 265 رسمي سفرونو لپاره د آسانتیاوو برابرول.
- د ملي او مذهبی ورځو، د طبیعی آفتونو، د زلزلې د خواخوږی پیغامونه، د ملي او جهادی شخصیتونو د شهادت او داسي نورو مواردو لمانځلو په موخه 4139 شمیر دیپلوماتیکی لیکونه جوړ، او استول.
- د مطبوعاتی کنفرانسونو، همغږی غونډو، د وزیرانو، معینانو، والیانو او کابل میشتو سفیرانو تبصرو په ګډون 601 شمیر مطبوعاتي پروګرامونه ترتیبول.
- 45 لنډ ویډیويي پیغامونه، 40 غږیز پیغامونه، 9 مستند فلمونه، 60 داني بلبورډونه چاپ او بیلابیلې خپرنې او مقالې په دریو ژبو (پښتو، دری او انګریزي) خپرول.
- 54240 دوسیو څیړل
- 468 قاضیان د قضائي ستاژ روزنیز کورس څخه فارغیدل .
- په مرکز او ولایتونو کې د ستري محکمی اړونده ودانۍ جوړول، او بیا رغول.

**د زیر بناوو سکتور:**

- د هیواد په کچه د بریښنا 20 کلن پلان جوړول.
- 20 زره کورنۍ د بریښنا څخه برخمني شوې دي.
- د هرات ولایت د رباط سنګي، ګلران، او کشک کهنه ولسوالیو کی 5 زره کورنۍ د بریښنا څخه برخمني شوې دي.
- په کاپیسا، جلال آباد، لغمان، کندز، سرپل او تخار ولایتونو کې 88 زره کورنۍ د بریښنا څخه برخمني شوې دي.
- د ایبک سب سټیشن چې د 16 میګاواټه بریښنا د تولیدولو وړتیا لري ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه.
- د مزار شریف د کود برق او آمو دریا پر فابریکو باندی 25000 ټنه اوومه تیلو پلورل .
- شبرغان کې 8 حلقي د ګازو څاګانۍبشپړ او ورغول شوې.
- د بریښنایی تذکرو پروژې پیلیدنه او پستي سکتور په کمپیوټري او عصري وسایلو سره سمبالول.
- د هیواد 88 سلنه سیمو ته د مخابراتي ټکنالوژۍ غځیدل او پراختیا.
- د معلوماتي او مخابراتي ټکنالوژۍ په سکتور کې په نیغه توګه 25000 تنو او په غیر مستقیمه توګه 210000 تنو ته د کار میندلو زمنه برابرول.
- د اندخوی او آقینی 36 کیلو متره سړک، د بامیان او یکاولنګ 99 کیلو متره سړک او د فراه ولایت دننه 12.33 کیلومتره سړکان ډامبر کول.
- د بدخشان ولایت د درواز ولسوالۍ هوایي ډګر ګټې اخیستنې ته وسپارل شو او همدارنګه د فراه ولایت د هوایي ډګر د بیارغونې کار 80 سلنه پرمختګ کړی دی.

- په 25 ولایتونو کې د 43640 جریبه ځمکه کې د 85 ښارګوټو سروې او همدارنګه په 20 ولایتونو کې د 49 ښارګوټو چې د 53573 نمرو لرونکی دي خط اچونه بشپړه شوه.
- د غزني ولایت د اسلامي ثقافت مرکز ودانی او د پغمان د غونډی قصر کارونه بشپړ شوه.
- د کندز څخه تالقان ته د 65.68 کیلومتره په اوږدو سره kv 220 لین وغځول شو.
- د چمتلی څخه تر دشت برچی پورې او د چمتلی څخه د خیرخانې تر 315 سیمی پورې 42 کیلومتره لین 20 کیلوواټه سب سټیشن نوی کول.
- 4965 شمیر کانکریټی او 1150 داني اوسپنیزې پایې د بریښنایي چارو د بیارغوني آمریت له خوا جوړې شوې.

## د پوهنی سکټور:

- د 42 سلنه ښځینه زده کونکو په ګډون 705,217 تنه زده کونکي عمومي زده کړو پروګرام ته جذب شوی، د 57.6% ښځینه زده کونکو په ګډون 27,181 زده کوونکي د ښوونکو روزنیز پروګرام ته جذب شوی، 34,492 شمیر زده کوونکي اسلامي زده کړو پروګرام ته جذب شوی، د 19٪ ښځینه زده کوونکو په ګډون 22,948 تنه زده کوونکي تخنیکي او مسلکي روزنې پروګرام ته جذب او د 61 ٪ ښځینه زده کونکو په ګډون 132,243 تنه زده کونکي جذب شوي دي. او همدارنګه 6,907تنه ښوونکي عمومی زده کړې لپاره، 661 تنه اسلامی زده کړې لپاره، 546 تنه ښوونکي د ښوونکو روزنې ته، 909 تنه ښوونکي تخنیکي او مسلکي زده کړو او 108 ښوونکي د سواد زده کړې پروګرام لپاره په دندو ګمارل شویدي. د دې ترڅنګ د عمومی زده کړو 612 بابه ښوونځي، 75 مدرسي، 20 دارالحفاظونه، 20 دارالعلومه، 35 بابه ښوونځي او تخنیکي او مسلکي انستتیوته او 5,384 بابه د سواد زده کړې مرکزونه نوي جوړ شوي دي. ددې پرته 40 ملیونه ټوکه کتابونه د عمومي زده کړو ښوونځیو او د اسلامي زده کړې مدرسو لپاره چاپ او ویشل شوي دي.
- د 2,454 بیلابیل آثار، 445 عدده بیلابیل مسکوکات، د 1000 چکروهونکو لپاره د سهولتونو برابرول، د 24 تاریخی آثارو بیا رغونه ، د 255 تنو شاګردانو د نقاشي، لیک لیکني (خطاطي)، میناتوری، د کوچنیانو عملی هنري برخو کې شاملول. 16000 کسان د نجونو او هلکانو په ګډون لوړو او نیمه لوړو زده کړو موسساتو ته وریپژندل، د کندز، جوزجان، سمنګان، خوست او غزني په ولایتونو کې د اطلاعاتو او فرهنګ د ودانی جوړیدل او د ننګرهار ولایت د رادیو او تلویزیون د ودانی جوړول.
- د افغانستان د لوړو زده کړو د مؤسسو او پوهنتونونو لپاره 42 عنوانه کریکولم چاپول، د 1391 کال بی پایلی پاته شوی زده کونکي خصوصي او دولتی پوهنتونونو ته جذبول، د ترکي زده کونکو لومړنی ډله د کابل او هرات په پوهنتونونو کې شاملول، د نا امنو او لرې پرمختللو ولایتونو د 12 صنفونو فارغانو لپاره د یو کلنی زده کړې د مرکز جوړول، د لوړو زده کړو د مؤسسو او پوهنتونونو ښوونکو 5000 لیکنی چاپ، د عامې روغتیا په برخه کې د ماسټری پروګرام پیل، هنری مهارتونه، اقتصاد، د تعلیم او روزنی او ارواح پوهني پوهنځیو په کابل او د کابل په طبی پوهنتون کې جوړول، د دولتي او خصوصي پوهنتونونو د ماسټری 8 پروګرامونه تائید او د پوهنتونونو 49 تنه علمي کدرونه د مرکز او ولایتونو په پوهنتونونو کې د ماسټری پروګرامونو ته ور پیژندل.
- په بیلابیلو ورزشونو کې د سرو زرو، سپینو زرو او برونز 50 داني مډالونه ترلاسه کول، د هیواد د فوټبال ملي ټیم اتلولي په سویلی آسیایي لوبو کې، د کرکټ ملي ټیم د 2015 کال نړیوالو لوبو ته لاره موندله، 6 ورزشی فدراسیونونه جوړول، د ولایتونو په کچه په بیلابیلو برخو کی 280 سیالی جوړول، د روزنکو د روزنو لپاره په 31 برخو کې 42 روزنیز پروګرامونه جوړول، په بهرنیو سیالیو د ګډون په موخه 850 تنو لوبغاړو 123 سفرونه ترسره کړي دي، په 19 ولایتونو کی د فوټبال لوبغالي، جمنازیمونه او ورزشي بنسټونه جوړول.

**د عامې روغتیا سکتور:**

- 58 ډوله اپیدیمی مرضونه کشف او د هغوی د مخنیوی په موخه لازم تدابیر نیول شوي دي.
- د کاپیسا ولایت د لابراتوار 15 تنه کارکونکو ته د عمومي تخنیک په برخو کې روزنه ورکول.
- 10689 تنو مریضانو ته د باکتریا لوژی، سیرولوژی، بیوشمی همیتولوزی، ویرولوئژی، پرازیتولوژی43450 معاینات ترسره شوه.
- د اکسری فلمونو د خرڅولو له لاری 1,759,649 افغانی د دولتی عواید لاسته راوړل.
- 2761 تنو بیلابیلو مریضانو درملنه کول.
- 2042 تنو د هیمودیالیز اړوند مریضان په بریالی توګه تداوي کول.
- 500 تنه د شرایطو وړ کاندیدان کورنیو او بهرنیو روزنیزو پروګرامونو ته ورپیژندل.
- 231 بابه درملتونونه، 34 بابه د درملونو لوی پلورنځیونه او د دواوو د واردولو 19 شرکتونه جوړول.
- د کانکور ازموینی له لاری 1100 تنه زده کونکی دهیواد په مختلفو برخو کی بیلابیلو روغتیایی مرکزونو ته جذبول.
- 8 بابه د نرسنګ او دایتوب ښوونځي د بدخشان، تخار، بامیان، کنړ، نورستان، زابل، غزني او پکتیکا په ولایتونو کې جوړول.
- په 34 ولایتونو کې 500 روغتیایي پوستې جوړول.
- د کابل ښوونکو ته د خولې او غاښونو د روغتیا 46 یو ورځنی ورکشاپونه جوړول.
- د هیواد په کچه 22500 شمیر د لیوني سپي یا انتی رابیس واکسینونه ویشل.
- په کابل کې د توبرکلوز نوی مرکز جوړول.
- د بامیان او ګاونډی ولایتونو معلولینو لپاره د یو اورتوپیدي مرکز جوړول او اړونده مرستندویه وسایل او مصنوعی غړو ویشل
- د هیواد په کچه د پولیو دري دوره واکسینیزه کمپاینونو جوړول.

**د کرهنې او کلیو پراختیا سکتور:**

- د هیواد په کچه په 8,192 جریبه ځمکه کې میوه داره ونې کښینول.
- 2530 هکتاره د پستی طبیعي ځنګلونو او شنو سیمو بیا رغول.
- 11,012متریک ټنه کرهنیزو زیرمو جوړول.
- د اوبو لګولو 23 بابه بنستونه جوړول.
- 186 بابه شنې خونې او سړې خونې جوړل.
- 1506 بابه د مالداری او څېرنیز فارمونو جوړول او بیا رغول.
- 61 بابه حیوانی روغتیایي کلینکونه جوړول او د وترنری خدمتونه وړاندی کول.
- 5 بابه کرهنیز او د مالداری کوپراتیفونو جوړول.
- 8 پایي ماشینونه او تخنیکي وسایلو ویشنه.
- د کرهنیزو چارو 4 مرکزونه جوړول او بیا رغول.
- د 1840 کیلومتره دوهم او دریيمه درجه سړک بیا رغول او همدارنګه د 334404 کورنیو لپاره د څښاک اوبو 1502 پروژو پلي کول.
- د 1,441 د اوبو ورکولو د پروژو د پلي کولو په وسیله د 755,776 متر په اوږدوالی د اوبو رسولو د شبکی جوړول او د 294,936 متر په اوږدوالي د شبکی بیارغونه او د 429 لاسی پمپونو نصبول چی 295,301 شمیر خلک نیغ په نیغه ورنه ګټه واخلی.

- 114456 متر کانال کیندنه، 108،756 متره استنادي دیوال د 28 کلیوالي پراختیایی پروژو په ترڅ کی  چې 154320 تنه خلک یې نیغ په نیغه  ګټه اخیستونکي دي پلې کیدنه.
- 56250 تنه  د 243 بریښنایي پروژو د پلي کیدو له لارې ګټې پورته کوي.
- په کابل کې 300 تنو نشه ئي روږدو کسانو لپاره د اوسیدلو ځای جوړ شو.
- 3500 تنو په  نشه ئي توکو روږدو کسانو تداوي شوې ده.
- 3810 هکټاره ځمکه د نشه ئي توکو د کرکیل څخه پاکه شوې ده.
- د معتادینو د درملنې 3 مرکزونه د 50 نه تر 90 بسترو په لرلو سره د کابل، پروان او هرات په ولایتونو کې جوړ شوي دي.
- 2,592,593کیلو ګرامه نشه ئی توکي، 148,504 کیلو ګرامه کیمیاوي توکي او   204,922  لیتره الکولی مشروباتو سوځول.

### د ټولنیز خوندیتوب (مصؤنیت)  سکتور:

- د کوربه هیوادونو څخه د (17989) افغان مهاجرینو په خپل  سر یا دواطلبانه ډول راستنید ل اوپه اصلي ټاټوبي کې د هغوی ځای پر ځای کول.
- د 2015 کال تر پای پورې د 1.6 میلونو   افغان مهاجرینو او پناه اخستونکو د کارتونو تمدید کول چې د پاکستان  په اسلامي جمهوریت کې میشت دي، او همداراز د پاکستان جمهوري اسلامي په تفاهم  د یو میلیون غیر راجستر شویو مهاجرینو دنوم لیکنې لپاره زمینه برابرول.
- د افغان مهاجرینو د وزیو د تمدید هوکړه ( موافقه) چې د ایران په اسلامي جمهوریت کې میشت دي.
- د 6000 څخه زیات کسان چې د ټولنې مختلفو قشرونو پورې اړه لري، د بازار دکار دارتیا وړ مهارتونه لاسته راوړي.
-
- یو باب د معلولینو ملي انستیټوټ د کابل په ښار کې ودان شوی دی.
- پرته له کوم شرط نه په لغمان او سمنګانو ولایت کې د 8760 نه زیاتو غریبو کورنیو سره نغدې مرستې.
- خارجي اتباعو ته د الکترونیکي سستم له لارې11000 څخه زیات د کار کولو جوازونه توزیع شوي دي.
- د پیژندنې (هویت) د تثبیت څخه وروسته د 1300 څخه زیات تقاعد شویو په نوي سستم کې را جستر او د با کیفیته خدمتونو څخه ګټه آخستوونکي دي.
- په 15 وزارتخانو او خپلواکو ادارو کې د تقاعد نوی سستم ( د متقاعدینو الکترونیکی راجستر ) پلی شو.
- 40 وزارتخانو او خپلوکو ادارو ته د تقاعد د نوي سستم په اړه د ورکشاپونو له لارې لازم ښوونې وړاندې شوې دي.
- د160000 څخه زیاتو شهیدانو ورثو او د 115000 څخه زیاتو معلولینو ته نقدې امتیازات ورکړل شوي دي.
- د 35000 په شاوخواکې ماشومان په وړکتونونو کې شامل او د ښوونځې څخه دمخه زدکړو د خدمتونو نه مستفید شوي دي.
- د 3306 په تعداد  نوي شامل شوي زده کوونکي چې سرحدي ولایتونو او نا امنه سیمو پورې تړاو لري د 1393 تعلیمي کال په درې ګونو لیسو کې شامل شوي دي.

### د اقتصاد او خصوصي سکتوردپرمختګ سکتور:

- په 34 ولایتونو کې د ولایتي پرمختیایی کمیټو منځته راوړل او دې هغوی د کارونو څخه څارنه کول، او د بین الوزارتي کمیټو په جلساتو کې فعاله ونډه اخستل.
- د 125 پروژو تدارکاتي بهیر پیل کول چې د 785 میلیونه امریکایي ډالرو ارزښت لري.
- د داخلي او خارجي شرکتونو سره د 41 پروژو قرارداد تړل چې42.54 میلیونه امریکایي ډالره ارزښت لري.

- د 230 داخلي او خارجي غير دولتي ادارو د ثبتولو او راجستر کولو له لارې د 3 ميليونه افغانيو په اندازه د عوايد لاسته راوړل، او د 140 داخلی او خارجی غير دولتی ادارو عدم فعاليت په خاطر له منځ وړل(منحلول).
- د اقتصاد درې رياستونه د لوګر، پکتيا او خوست په ولايت کې تکميل شول.
- په ټولو وزارتونو او د هغوی اړونده بودجوي واحدونو کې د افغانستان د مالي چارو د اداري معلوماتي سستم (افمس) غځول او د هيواد ټول مستوفيتونه په 1392 کال کې تر پوښښ لاندې راوستي دي.
- د وزارت ماليې60 تنه کارمندان د لسانس او ماستری تحصيلي دورې ته ورپيژندل شوي دي.
- دمرکز او ولاياتو 99 سلنه کارمندان د رتب معاش په سيستم کي شاملول، چې85 تنه ددې کارمندانو څخه په 1392 کال کې شامل شوي دي.
- دسوداګريزو جوازنامو د صادرولو له ځانګي څخه د11000 په شاوخواکې جوازنامې صادرې شوې دي.
- سوداګريز درې هوکړه ليکونه (الف) ځواړخيز(TRACEIH) نړيوال ترانسپورټ پراختيا لپاره له اروپا، ققفازاو اسيا (ب)نوی دوه اړخيزه هوکړه ليک له ترکستان او ازبکستان سره(ج)د سودګريزوهمکاريو او اقتصاديتوب نوی هوکړه ليک له عربستان او عربي اماراتو او ماليزياسره
- د ملی ستندر د قانون نافذ ول او د ملي ساختماني کودونو تصويبول.
- په مختلفو سکتورونو کي د 67 ملی ستندردونو تصويبول.
- په سلګونو مصارفاتي نورمونه لکه نقلکوونکي ماشين الات او وسايط ،تيز رفتار، ګازی بخاريګانی او جنراتورونه.
- په مرکز کې د مترولوژی د مجهزه لابراتوار قرارداد، او د مترولوژی او اعتبار ورکونی بين الملی ستندرد سازمان غړيتوب تر لاسه کول.
- د ترکيې د ستندرد ملي اداری سره د همکاريو د پروتوکولونوټرل ، او همدارنګه د قزاقستان او ترکمنستان هيوادونو سره د تفاهم لاسليک.
- د 393.7 ميليونه افغانی او 2205 زرو امريکايي ډالر حاصل او د دولت خزاني ته ليږدول شوي دي.
- د 3 دوسيو د 31.69 ميلونه افغانيو په ارزښت لوی ځارنوالی ته سپارل او ددې مدت په جريان کې203 ميليونه افغانيو او 28715 ډالره ددولت خزاني ته منتقل شويدي.
- د 4 باب تعميرونو جوړول په خوست ،زابل ، ميدان وردګ او بدخشان کي بشپړ او د ګټي اخيستو لپاره سپارل شوي دي.
- د اقتصادی ،ټولنيز او ډيموګرافيک سروې په لاره اچول.
- د ښځو د ونډې اخستنې سروې او د 35ډولوڅخه د زياتو احصاييوي نشرياتو چاپ.
- د 50 تنو کارمندانو د وړتياو لوړول په لنډ مهاله کورسونو کي لکه رياضی ، کمپيوتر او انګليسی.
- د ننګرهار په ولايت کي د حصار شاهي صنعتی پارک جوړول او د يو روښانه بهير له لارې نوموړی پارک پانګه اچوونکو ته ور ويشل.
- د تير کال په اوږدو کي په 14 ولايتونو کې152 زره مشتريانو ته 370 زرو څخه د زياتو په شاوخواکي د وړو پورونو ورکول.

## د 1393 مالي کال لپاره د وزارتونو او بودجوي ځانګو پلان شوې کړنې:

### د امنيت سکتور:

- د ملي اردو ځواکونو تجهيز ، دلا زياته ښوونه او روزنه تر څو د افغانستان ټولو اوسيدونکو ته دهيواد په ګوټ ګوټ کې امنيتي خدمتونو برابرولو باندې قادر اوسي.

- دخپلواک عملیاتو په مخکې ورلو لپاره د اردو د وړتیا لوړول.
- د زیاتو ولایتونو امنیت په لاس کې نیول او د لیرد دبهیر په کامیاب ډول بشپړلیدل.
- د خپل بسیا امنیتي سیستم رامنځته کولو په موخه د روزنیزو پروګرامونه وړاندې کول او د ځواکونو د مسلکیتوب لړۍ پیلیدنه
- د ځمکني ځواکونو لپاره د قوماندانیو جوړول چی لیږل شوی ځواکونه سوق او اداره شی ترڅو د دفاع وزارت چاروګی دې ته جوګه شي چې پر ستراتیژۍ ګانو، پلانونو او پالیسی جوړونه باندې تمرکز وکړي او پر تکتیکي او عملیاتي چارو باندې تمرکز راکم کړي.
- د ملی پولیسو تجهیز، روزل او پوهول ترڅو دې ته جوګه شي چې د هیواد په کچه ټولو خلکو ته امنیتي خدمتونه وړاندې کړی.
- د هیواد کورنی امنیت ټینګښت، امن او عامه نظم او د پولو ساتنه
- د محبسونو پراختیا، په عصر وسایلو سمبالول او د علمی او تربیوی بنسټونو پراختیا
- د هیواد په کچه د قانون ښه پلی کولو په موخه د سیمه ییزو پولیسو اداره مینځته راوړل
- د خپلواکو عملیاتو د ترسره کولو په موخه د ملي پولیسو وړتیاوې لوړول
- د جرایمو د مبارزې په وړاندې د ملي پولیسو پیاوړتیا
- د ملي پولیسو ځانګې او د مخدره توکو او تروریزم ضد پولیس پیاوړي کول ترڅو کوردننه او بهر د دولت ضد وګړي او د تروریزم ګروپونه په ګوته کړي.

**دحکومتوالی(حکومت داري)، د قانون ټینګښت او د بشر حقوقوسکتور:**

- په ځلورو ولایتونو (کابل، هرات ، بامیان او لوګر) کی په موثر ډول د عدلي او قضایي خدمتونو مرور
- دستري محکمې او لويی څارنوالی لپاره دبشری سرچینو د ستراتیژیک پلان جوړول
- دعدلي او قضایي ادارو لپاره دپانګې اچونې د یو ثابت پلان ترتیبول
- د عدلیی وزارت لپاره د حقوقي مرستو د لاربښوونو برابرول
- د عدلي او قضایی ادارو لپاره د همغږی د ستراتیژی برابرول او جوړول
- د هیواد د محترمو حاجیانو لپاره د نوم لیکنې او زده کړې د غوره خدماتو برابرول، کوم چې د حج د ادا کولو لپاره سعودي عربستان ته ځي.
- د دولت د مالي امکاناتوله په پام کې نیولو سره په ټولو ولایتونو کې د مسجدونو جوړول
- د مسجدونود ممبر له لارې په مرکز او ولایتونو کې د ارشادي خدمتونو ارایه کول
- په چټک ډول سره په څارنوالی او ستره محکمه کې د دوسیو فیصله کول
- د هیواد په ټولو ولایتونو کې د بی ځایه (بضاعت) متهمینو سره د حقوقي مرستو وړاندی کول
- د خلکو حقوقي با خبري د موضوعی قوانینو د چاپ له لارې او د هغه لیږل ولایتونو او ولسوالیو ته
- د افغانستان د ملي انکشافي ستراتیژي مطابق د قوانینو تسوید،تدقیق او تعدیل او همدارنګه د تقنیني حکمونو، قوانیو او مقرراتو تصویبول
- په ټولو مر کزي ریاستو نو کې د اجراآتو ساده کول او د هغو پلي کول
- فزیکي زیر بناو ته تقویه او بهبود ورکول
- د بشري سرچینو د لوړتیا لوړول
- د رتب پر اساس معاشونو د سستم پلي کول
- د پلانونو پلي کول او د سیمه ییزو ادارو تقویه کول
- د ولسوالیو به کچه د خدماتو عرضه کول د یو تعداد نا امنو ولسوالیو لپاره
- د اداري فساد پر ضد د عالي مبارزې د مرکزی اداري د تعمیر جوړول

- د بشر حقوقو د خپلواک کميسيون د مرکزي تعمير دکار بشپړتيا
- د عدليې وزارت د مرکزي تعمير جوړول
- دپارلمان په چارو کې د وزارت دولت مرکزي تعمير جوړول
- د لوی څارنوالی دمرکزي تعمير د کار بشپړتيا
- د ملکي خدمتونو او اداري اصلاحاتو خپلواک کميسيون د مرکزي تعمير د کار بشپړتيا
- د مشرانو جرگې د غړيو لپاره د (102)کاری دفترنو او نوراړونده تعميرات بشړول
- د غور ولايت په مرکز او 7 د ولسواليو اداري تعميرات او همدارنگه د ولايتي شورای تعمير جوړول
- دسرپل ولايت د مقام او 3 ولسواليو د اداری تعميراتو او همدارنگه په ښار دننه کې تفريحي پارک او 2 کيلو متره سړک جوړول
- د بادغيس ولايت د سيمه ييزو ارگانو نو لپاره د مجتمع اداري تعمير جوړول
- د فراه ولايت د مقام ميلمستون، دولايتی کنفرانس خونه او 3 ولسواليو تعمير جوړول
- په ولايتونو کي د لوی څارنوالی، ابتدائيه او مرافعې محاکمي په اساسي ډول بيا رغول او جوړول
- په ټول هيواد کې د ولسمشری د ازادو انتخاباتو سازماندهي کول

**دزيربناوو او طبعي زيرمو سکټور:**

- دغور ولايت پوره ليچ دابو دساختماني دستگاه د ترون
- په جلال اباد او لغمان ولايتونو کي د شبکو د ويشلو تمديدول
- د 180 ميگاوات ظرفيت په درلودلو سره دوهم سربي د ابو دبريښنا دستگاه د ډيزاين قرارداد ترون.
- د ترکمنستان له خوا د بادغيس ولايت د اوبو رسوني پروژه د اړوندو سب سټيشنونو سره بشپړه او د قلعه نو د خلکو لپاره به داړمنه بريښنا برابره شي.
- دپلخمري، چاريکار او گلبهارد ښارونو د شبکو د پراختيا بشپړول
- د شاه او عروس بند پروژې کار چې اوسمهال يې د 40 سلنه شاوخوا پرمختگ کړی دی په 1393 کال کي به پای ته و رسيږی.
- په 1393کال کې د گمبيري دبريښنا توليد او ابولگولو پروژې د تفصيلي ديزاين بشپړ او دهغه دساختمان د قرارداد ترون
- د تدارکاتي پړاونو طی کول، دکامي د بريښنا توليد او ابولگولو د پروژې تفصيلي ديزاين،په ارزگان ولايت کې د اغاجان بند د تخنيکی، اقتصادي او تفصلي ډيزاين د پړاوونو طی کول
- د هيواد په شمالي ولايتونو کې سندونو د څندو محکمول د نوي قرارداد په ترلو سره د امو سند پرخوا او(مسير)
- د واترشيټ پر څانگې باندې کار کول او همدارنگه د د ډهله بند د ودانی استنادي ديوالونه لوړول
- د شبرغان په گازلرونکو سيمو کي جيوفزيکي څيړنی ترسره کول او د 18 گاز لرونکو څاگانو ترميم او بيا رغونه
- د انگوت، قشقی او آق دريا نفتو کانونو 5 کلن پرمختيايي او د کټي اخيستني پلانونه جوړ او 1650000 بيلره اوومه تيلو توليد او د خرځلاو لپاره استخراجول.
- د حاجيگک او آهن سياه دری کانونو لپاره مشورتي پروژو پيلول
- د کندهار او کندز ولايتونو د هوايي ډگرونو ترمينلونه بيا رغول
- د لوگر نړيوال هوايی ډگر شاوخوا ديوال جوړول
- په 7 ولايتونو کي د 4932 جريبه په اندازې سره د 14 ښارگوټو سروې
- په 9 ولايتونو کي د 9 ښارگوټو خط آچونه ترسره کول

**د پوهنې سکتور:**

- د عمومي تعلیماتو د زده کوونکو شمیر زیاتوالی له (2.9) میلیونونه تر (9.9)میلیونو تنو پورې ، 42٪نجونې
- د اسلامي تعلیماتو دزده کوونکو د تعداد زیاتوالی له (242600) تر (272600) تنو پورې
- د عمومي تعلیماتو ښوونځیو د تعداد زیاتوالی له (204،15) تر (150،16) ښونځیو پورې
- د اسلامي تعلیماتو د تعلیمي مرکزونو د تعداد زیاتوالی له (828) تر(890) مرکزنو پورې
- د عمومي تعلیماتو لپاره (500،7) په تعداد سره دنوي درسي صنفونو جوړول
- د اسلامي تعلیماتو لپاره (500) په تعداد سره دنوي درسي صنفونو جوړول
- د عمومی تعلیماتو ښونځیو د زده کوونکو لپاره د (1000000)میزونو او څوکیو برابرول
- په ساینسي لابراتوارنو د (500) ښونځیو، د ساینس د مرکزونو او د ښووني او روزنې د مرکزونو سمبالول
- له لومړي نه تر شپږم ټولګي پورې د ښوونکي د لارښود او د (186) درسي کتابونو عنوانونو بیا کتنه او پراختیا
- د (39) ملیونو ټوک کتابونو توزیع او چاپ، ښوونکي لارښود، د ښووني او روزنې درسي ممد مواد
- د (80.000) ښوونکو او محصلانولپاره د دوه کلنو زده کړو داخل خدمت او مخکې له خدمت برابرول چې 38٪ یې ښځینه ممکن وي
- د (95.520) ښوونکوو لپاره لنډمهاله زدکړې برابرول
- د ښووني او روزنې د (6) باب مرکزونوجوړول
- د ښووني او روزنې د محصلینو لپاره د (20) باب لیلیو مرکزونوجوړول
- د زده کوونکو د تعداد زیاتوالی له (90.000) تر (120.000) تنو پورې 18٪ ښځینه
- د ښوونځیو دتعداد زیاتوالی له (250) نه تر (275) پورې
- د (14) باب ښوونځیو جوړول
- د مختلفو ځانګو لپاره د(800.000) ټوک کتابونو چاپول
- د سواد یادونې (30.000) کورسونو جوړول
- (796.000) تنو سواد یادونکوته زدکړه چې 58٪ یی ښځینه
- د سواد یادونې (1100000)ټوک کتابونه چاپ او توزیع
- د (30) باب سیمه ییزو زدکړو مرکزونو جوړول
- د (40000) تنو ښوونکو، اداری کارمندانو او اجیرانو لپاره د رتب معاشاتو د سیستم تطبیق ول
- د (13274)اداري کارمندانو ته زده کړه او د ظرفیت لوړول
- د کمپیوتراو لابراتوارونو سره د (300) باب ښوونځیو تجهیز ول

**دروغتیا سکتور:**

- دهیواد په کچه دروغتیایي بیمې دشونتیاوو وړاندیز او مطالعه
- د صحت پروژې په مالي مرستې سره اساسي روغتیایي خدمتونه (BPHS) او د روغتون اساسي روغتیایی خدمتونه (EPHS) وړاندی کیدل.
- دهیواد په پنځو ولایتونو کې دمخابراتي ټکنالوژۍ په وسیله ماشومانو او میندو ته دروغتیایي خدماتو دترلاسه کولو تقاضا لوړولو لپاره د پروژې پلي
- دکابل ښار په یو روغتون کې د میکانیزم دنوي اچونې ( PPM )ازمایل
- دروغتیایي ملي حساباتو باندې د دریم دور دنشر کار پیلول

- دابن سینا په عاجل روغتون کې د عاجلو مراقباتو دیو مجهز مرکز جوړول
- دهیواد په کچه د روږدو (معتادینو) ته د باکیفیته روغتیایي خدماتو وړاندې کول.
- دهیواد په ټولو ولایاتو کې د اساسي واکسین تطبیق
- دهیواد په کچه د هغو اړو ناروغانو د تداوي لپاره چې په هیمودیالیزم اخته وي، دمعلوم او مشخص میکانیزم رامنځته کول.

**د کلیو پراختیا او کرهنې سکټور:**

- په ۱۳۵۰ هکتاره ځمکه کې پستې د ځنګلونو، غرني بادام او داسې نورې ونو کینول
- دهیواد په شپږو ولایاتو په 180 جریبه ځمکه کې چنار کاري او دهیواد په مختلفو ولایاتو کې د180 زره نهالونو کینول.
- د 2000 هکتار دنوو باغونو رامنځته کول، 200 هکتاره دپستې ځنګلونه رامنځته کول، 12000 دکورنیو باغچو رامنځته کول دسبزیو دتولید لپاره، او په فني ډول دکورني ممیزو 15 ممیزخاني جوړول.
- دکرنې او مالدارۍ په برخه کې 47500 د نارینه دبزګرانو او 7000 ښځینه وو ته زده کړه ورکول.
- داوبو لګو د41 ساختمانونو جوړول او بیا رغول ( داوبو ذخیرې، سربند، ترناب، استنادي دیوالونه او کانالونه)
- دمیوو او سبزیو دبسته بندی لپاره د درې اطاقونو ترتیبول.
- کوپراتیفونو ته د 9 لمریزو واټرپمپونو،178 عدده دواشندونکو، 7 عرادې تراکتور، 32 عرادې ریکشا او 10پایې افتابي خشکن توزیع کول.
- دسبزیجاتو 14 دخیره خاني په زیرزمینې کې جوړول.
- د اوبو لګولو د 175 انجمنونو جوړول او د کرنې او مالدارۍ په برخه کې دزده کړو دورکشاپونو دایرول او 80 په خواشا کې د اوبولګولو 80 شبکې فعالول.
- دقرغې په څیرنیز فارم کې دیو څیرنیز مالداري کمپلکس جوړول.
- دهیواد په 15 ولایاتو کې دزعفرانو نمایشي قطعاتو رامنځته کول.
- دهیواد په دوه زونونو کې دسپرمونو دپروسس او منجمد کیدو دوه باب لابراتوارونه جوړول.
- د 15 باب دحیواني کلینیکونه جوړول.
- دوه میلیونه دوزه د حیواني واکسینو تولید
- په تخنیکي، مدریتي او د بازار موندنې په ساحوکې دملي مؤسسي او دتخمونو دتولید دخصوصي شرکتونو وړتیا جوړونه
- د کابل، پنجشیر، پروان او کاپیسا ولایتونو اړونده 25 د ماهیانو نمایشی فارمونو ته د ماهیان بچیانو ویشل او همدارنګه د 6 میاشتو لپاره 25 نوی جوړ شویو فارمونو ته خوراکي توکي برابرول
- دماهیانو دفارم لرونکو سره د دماهیانو دروزلو لپاره دیو کوپراتیف جوړول او 120 ګټه اخیستونکو ته روزنه ورکول.
- د(6000) دبزګرانو ته په کلیوالو سیمو کې د وړو پور په ورکولو دمالداری تقویه کول.
- دشیدو دپروسس د فابریکي نصبول
- د دکچالو لپاره (330) سړو خونو جوړول او دپیازو لپاره 125 سړو خونو جوړول
- دهیواد په 14 ولایاتو کې د74 پایي ماشین الاتو تیارول او اخیستل
- په ولایاتو کې د 9 باب د کرنې دمیکانیزه تعمیرونو جوړول او بیارغاونه
- دملي پیوستون پروګرام د 1393 کال لپاره د 350 میلیونو په شاوخوا کې امریکایي ډالر لري چې په مختلفو برخو لکه ترانسپورټ، دڅښلو پاکې اوبه، اوبه لګولو ، بریښنا، کلیوالي پراختیا او دمحلي انکشافي شورای د روزلو او زده کړې لپاره په کار راځي.6500 نوې محلي انکشافي شورا ، 6500 انکشافي پلانونه ددې شورایو لپاره، 8450 نوې پروژې ددې شوراوو لپاره مصرفیږي.

- د 100 سیمه ییزو پرمختیایی شوراګانو بیا ټاکني، 100 سیمه ییزو پرمختیایی شوراګانو ته روزنیز پروګرامونه، 7 سیمه ییز ورکشاپونه جوړول، 100 د جندر استازی، 60 د پيښو فرعی کميټی او د پيښو د مدیریت لخوا 100 پلانونو سره تخنیکی مرسته او 100 سیمه ییز پراختیایي شوراګاني.
- د 500 تولیو لپاره دنویو پس اندازونو رامنځته کول او دموجوده 300 تولیدي ګروپونو لپاره خدمتونه وړاندي کول، دپوررونو او پس اندازونو د100 اتحادیو رامځته کول، د 250 دسابقه او نویو تشبثاتو لپاره دخدماتو وړاندي کول.
- 560 کیلومتره سړک ، 700 متره پول او 3000 کیلومتره د سړک حفظ او مراقبت ترسره کول
- د 21000 هکتارو په اندازه په کوکنارو کرل شوي ځمکه تخریبول.
- د وژونکو توکو هغه 25 باب فابریکي چې تولید او پروسسس کوي په بشپړه توګه تخریبول.
- 15 ٪ ځمکه د نشه یی توکو د کښت څخه پاکول
- په هلمند، زابل او فراه ولایتونو کې فوډ زونونه ته وده او پراختیا ورکول

**د ټولنیز خوندیتوب(مصؤنیت) سکټور:**

- په هغو 7 ولایتونو کې چې هیواد ته بیا ستانه شوي وګړي اوسیږي د سړکانو، پلونو او پلچکونو جوړول او د ویالو بیارغونه ترڅو 7000 تنه راستانه شوي کډوالو ته اړین خدمتونه وړاندې شي
- د کابل، پروان، سمنګان، جوزجان، لغمان، ننګرهار او بغلان په ولایتونو کی د بیا راستانو شویو کډوالو لپاره 7 حلقی ژور څاګاني ویستل
- د کډوالو، بیځایه شویو او پناه غوښتونکو د حالت د سمون په موخه د دریيو ګاونډی هیوادونو په ګډون غونډې جوړې شوي دي
- د انسان د قاچاق څخه د مخنیوی، د پولو دواړو خواو ته د تګ راتګ او غیرمنظمو کډوالو ته قانونی بڼه ورکولو په موخه عامه پوهاوی ترسره کول
- د ټولنی بیلابیلو قشرونو څخه 3100 تنو ته مسلکي او فني روزنه ورکول
- د کار بازار سره سم 50 ملي او نړیوال سنتدردونو جوړول او د هغوي پراختیا
- د مسلکي او فني زده کړو 8 باب مرکزونه جوړول
- د شهیدانو د ورثو او معلولینو د ثبتولو لپاره یو بریښنایي سیستم جوړول
- په بیلابیلو ولایتونو کی ډیرو بیوزلو کورنیو سره نغدي مالي مرستي ترسره کول
- د کار مارکیټ او د کارځواک ارزولو لپاره سروې ترسره کول
- د 166000 شهیدانو او د 118000 معلولینو وارثانو باندې نغدي پیسیي ویشل
- د بیلابیلو ولایتونو د وړکتونونو 39000 ماشومانو د ښوونځي څخه مخکو زده کړو ورکول
- د بیلابیلو ولایتونو د دارالیتامونو 6000 تنو یتیمانو او بی کسه ماشومانو لپاره روزنیز او د څارني خدمتونه وړاندي کول
- 3000 قطعي قبایلي د هویت کارتونه به وویشل شي
- په هیواد کي د ملی یووالي، ملي حاکمیت، د دولت سره بیا یوځای کیدنه، د امنیت د لیرد بهیر، سوله او ثبات، د پولو ساتنه، د تروریزم، د نشه یی توکو کر کیلي په وړاند مبارزه، د جندر حقوقو یووالی، د دولت او خلکو ترمنځ د اړیکو ټینګښت، د پولو په شاوخوا کی د خلکو شتونزې په ګوته کول او د هیواد په 7 زونونو کي د یادو ستونزو حل لارې موندلو په موخه 250 قومي جرګې به جوړې شي.
- د هیواد د پالیسي ګانو د پلي کیدلو او د ټبرونو او قبایلو د فکري او کلتوري ځواک ته وده ورکولو په موخه 60000 جلده د جرګي مجلی، هموطن، غرجستان او جاش او همدارنګه 37600 جلده د وطن، تارا، ګوراش او پولوز جریدی چاپ او په اقوامو او قبائلو باندې به وویشل شي
- په کال 1393 کی 5000 تنه زده کوونکي د هیواد د بیلابیلو ټبرونو څخه ددې وزارت په اړوندو ښوونځیو کې به جذب شي

**د اقتصاد او خصوصي سکتور دپرمختګ سکتور:**

- د ولایتونو په کچه د 11 اداري ودانیو او مستوفیتونو رغنیز کار بشپړ شو
- د مالیې وزارت په بیلابیلو کچو د کاري وړتیاوو لوړونه
- د 1،2،3 درجو ولایتونو ګمرکونه په عصري وسایلو سمبال شول
- د مرکز او ولایتونو لپاره د وسایطو رانیولو لپاره تدارکاتي چارې تنظیم شوې دي
- د مستوفیتونو، ګمرکونو او املاک په ریفورم کې رغنیزی پروژی پیل شوې
- د مرکز او ولایتونو په کچه د ټکرانو (منسوجاتو) لابراتوار تدارک
- د مرکز او ولایتونو لپاره د بریښنایی توکو لابراتوار تدارک
- د ستندرد ملي ادارې لپاره د ساختماني توکو لابراتوار تدارک
- په سلګونه مصرفي نورمونه په ګوته کول
- په بیلابیلو سکتورونو کې 50 ملي ستندردونه جوړول
- هیواد ته وارد شویو توکو د کیفیت څارولو او د دولت مالي بنسټ د پیاوړتیا په موخه د نفتي او ساختماني توکي وازمول شول
- په نړیوالو او سیمه ییزو سازمانونو کې غړیتوب ترلاسه کول او د تخنیکی مرستو لپاره تړونونه لاسلیک شول
- ددې لپاره چې د ملي پرمختیایی ستراتیژۍ او سکټوري ستراتیژي ګانو موخې ترلاسه شي386 ادارې به وڅارل شي
- د 1391 کال قطعیه د نړیوال بانک په مرسته به وارزول شي او راپور به یې اړوندو څانګو ته ولیږل شي
- پانګه والو ته د صنعتي ځمکو د ویش لپاره اړونده مقررات او طرزالعمل نوجوړول
- د پانګواچوني د ملاتړ ادارې په تشکیلاتي جوړښت کې د صنعتي پارکونو لپاره ځانګړې اداره جوړول
- په ننګرهار ولایت کې د شاهي حصار صنعتي پارک جوړول او د یوه راتې بهیر له لارې پر پانګوالو ویشل
- د کندهار او بلخ ولایتونو د صنعتي پارک حفظ او مراقبت ترسره کول
- د افغانستان د صنعتي پارکونو د پراختیایي ستراتیژیو مسوده جوړول

## منخمهالی مالی چوکاټ (1388 - 1395)

| تشریحات | 1388 | 1389 | 1390 | 1391 | 1391 | 1391 | 1392 | 1392 | 1393 | 1394 | 1395 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | حقیقی | حقیقی | حقیقی | بودجه | ضمیمه | حقیقی | بودجه | بررسی وسط سال | بودجه | تخمینی | تخمینی |
| | تمام ارقام به ملیون افغانی | | | | | | | | | | |
| **عواید** | **134,041** | **172,429** | **197,964** | **228,345** | **251,788** | **183,358** | **338,542** | **328,496** | **407,529** | **424,817** | **446,840** |
| کورني عواید | 63,619 | 80,384 | 99,342 | 87,910 | 87,910 | 81,528 | 123,000 | 114,000 | 133,837 | 148,922 | 170,945 |
| په عادي بودجه کې د عوایدو ونډه | | | | 77,279 | 77,279 | | 109,098 | 100,672 | 128,367 | | |
| په پرمختیایي بودجه کې د عوایدو ونډه | | | | 7,631 | 7,631 | | 13,902 | 10,988 | 5,470 | | |
| د پرمختیایي بودجې لپاره نور کورني عواید | | | | 3,000 | 0 | 0 | | | 5,600 | | |
| د مرستندویانو مرستې (د عادي بودجې لپاره) | 32,768 | 57,753 | 66,711 | 56,997 | 81,190 | 65,715 | 87,229 | 102,793 | 152,106 | 145,633 | 145,633 |
| د مرستندویانو مرستې (د پرمختیایي بودجې لپاره) | 37,655 | 34,291 | 31,912 | 76,334 | 75,584 | 36,115 | 121,922 | 109,363 | 115,986 | 130,262 | 130,262 |
| **مجموعه** | **70,422** | **92,044** | **98,623** | **133,331** | **156,774** | **101,830** | **209,150** | **212,156** | **268,092** | **275,895** | **275,895** |
| **مصارف اصلي** | **131,305** | **153,868** | **192,328** | **268,138** | **265,916** | **186,693** | **352,965** | **348,245** | **428,378** | **487,664** | **496,627** |
| **اصلي لګښتونه** | **87,314** | **110,487** | **141,426** | **157,083** | **157,523** | **129,225** | **195,215** | **206,586** | **280,472** | **311,704** | **320,047** |
| **د عادي بودجې لګښتونه** | 64,257 | 86,475 | 111,718 | 102,173 | 102,567 | 98,332 | 142,082 | 138,867 | 172,125 | 176,308 | 182,294 |
| کوډ 21 ( معاشونه) | 16,859 | 17,158 | 25,865 | 30,899 | 30,422 | 25,203 | 26,388 | 41,202 | 83,673 | 85,615 | 86,683 |
| کوډ 22 ( توکي او خدمتونه) | 1,333 | 1,590 | 0 | 7,676 | 7,728 | 3,720 | 2,440 | 3,701 | 12,096 | 12,096 | 12,096 |
| کوډ 25 (د شتمنیو لاس ته راوړل) | 4,865 | 5,264 | 3,843 | 16,334 | 16,806 | 1,971 | 24,306 | 22,816 | 12,578 | 37,686 | 38,974 |
| احتیاطي کوډونه | | | | | | | | | | | |
| **مصارفات بودجه انکشافی (به اساس سکتورها)** | **43,991** | **43,382** | **50,902** | **111,055** | **108,393** | **57,468** | **157,750** | **141,659** | **147,906** | **175,960** | **176,580** |
| امنیت | 996 | 441 | 528 | 1,325 | 889 | 566 | 39,245 | 26,403 | 9,427 | 25,912 | 27,150 |
| حکومتداری، د قانون حاکمیت او بشري حقونه | 1,346 | 1,293 | 1,877 | 3,405 | 2,666 | 1,287 | 3,927 | 3,844 | 4,671 | 2,121 | 2,169 |
| زیربناوې او طبیعي سرچینې | 15,376 | 20,633 | 23,753 | 49,705 | 45,831 | 23,539 | 46,893 | 46,099 | 52,696 | 56,754 | 56,089 |
| پوهنه | 5,438 | 4,793 | 6,699 | 10,527 | 12,066 | 4,258 | 19,436 | 18,466 | 18,882 | 21,355 | 21,355 |
| روغتیا | 3,689 | 4,283 | 2,990 | 9,293 | 9,293 | 4,561 | 9,746 | 9,072 | 14,662 | 15,961 | 15,961 |
| کرهنه او د کلیو پراختیا | 14,474 | 9,080 | 11,625 | 25,381 | 27,501 | 15,871 | 26,246 | 25,981 | 31,079 | 35,633 | 35,633 |
| ټولنیز مصؤنیت | 615 | 489 | 497 | 1,202 | 1,140 | 687 | 1,110 | 980 | 1,217 | 1,276 | 1,276 |
| اقتصادي حاکمیت او د خصوصی سکتور پراختیا | 2,058 | 2,369 | 2,933 | 6,342 | 5,132 | 2,823 | 6,329 | 5,401 | 6,930 | 8,883 | 8,883 |
| د پراختیایی پروژو لیاره احتیاطي کوډونه | 0 | 0 | 0 | 3,875 | 3,875 | 3,875 | 4,818 | 5,413 | 8,344 | 8,064 | 8,064 |
| **د عادي بودجې کچه مازاد/کسر ( له مرستو پرته)** | **(23,696)** | **(30,102)** | **(42,084)** | **(79,804)** | **(77,244)** | **(47,698)** | **(86,117)** | **(103,574)** | **(146,635)** | **(162,782)** | **(149,102)** |
| **د عادي بودجې میزان مازاد/کسر (د مرستو په ګډون)** | **9,072** | **27,651** | **24,627** | **(12,176)** | **11,577** | **18,017** | **1,112** | **(3,121)** | **(0)** | **(17,149)** | **(3,469)** |
| **د اصلي بودجې مازاد/کسر** | **2,736** | **18,560** | **5,637** | **(39,793)** | **(14,128)** | **539** | **(14,423)** | **(19,749)** | **(20,849)** | **(62,847)** | **(49,787)** |
| **تمویل ( پورونه)** | | | | (3,672) | (3,672) | | (2,837) | (2,837) | (2,760) | | |
| **د ثابتو جایدادونو خرڅول** | | | | | | | | | | | |
| **د اصلي بودجې مازاد/کسر** | **2,736** | **18,560** | **5,637** | **(36,121)** | **(10,455)** | **539** | **(11,586)** | **(16,912)** | **(18,089)** | **(62,847)** | **(49,787)** |

**نوټ: پدی کوډ کی سبسایډی، انتقالات او د متقاعدینو پیسی شاملې دی.**

| **د یادولو وړ توکی:** | 1388 | 1389 | 1390 | 1391 | 1391 | 1391 | 1392 | 1392 | 1393 | 1394 | 1395 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| **نا خالص کورني تولیدات (په میلیون افغانیو)** | **615,082** | **729,905** | **861,947** | **1,028,111** | **1,013,609** | **1,085,680** | **1,122,444** | **1,140,584** | **1,245,607** | **1,376,801** | **1,518,643** |
| دهیواد د نا خالصو کورنیو تولیداتو وده په فیصدی | 21.0% | 8.4% | 7.0% | 9.0% | 9.0% | 9.9% | 3.2% | 3.1% | 3.6% | 4.8% | 5.3% |
| د نرخونو پړسوب (د کال په نیمایی کی) | -12.2% | 7.7% | 11.8% | 8.5% | 8.5% | 8.5% | 6.7% | 7.2% | 5.4% | 5.0% | 5.0% |
| د اسعارو د تبادلې نرخ له ډالرو څخه افغانیو ته | 48.5 | 45.4 | 48.5 | 50.0 | 50.0 | 51.6 | 52.0 | 52.0 | 56.0 | 59.4 | 61.6 |

## د دولت د پورونو او پانګې اچونې د استراتیژۍ تفصیل

### د دولتي پانګونې د استراتیژۍ تفصیل

د اضافي بودجې په اړه چې په بیړنی ډول ورته اړتیا نه لیدل کیږي، د مالیې وزارت د پالیسی له مخې باید اضافي بودجه باندې پانګونه تر سره شي، تر څو یې دولت ته ګټه ورسیږي. اوس مهال د افغانستان بانک د دولت په استازیتوب پانګه اچونه کوي او کومه ګټه چې د هغې څخه ترلاسه کیږي، د بانکي خدماتو د لګښتونو د تادیې په موخه د افغانستان بانک لخوا د دولت لپاره ساتل کیږي. وړاندوینه کیږي چې په راتلونکو کلونو کې به تر لاسه شوې ګټه دولت ته سپارل کیږي او د افغانستان بانک به د خپلو بانکي خدمتونو لګښتونه له دولت څخه د مارکیټ په بیه ترلاسه کوي.

د دولت د بسپنو د پانګې اچونې اصلي موخه د پانګونې د احتمالي خطراتو په پام کې نیولو سره د پانګونې له لارې د عوایدو د کچې زیاتوالی دی. د دولت په مالي بسپنو د پانګونې واک د مالي چارو او عامه لګښتونو د اداري د قانون د پنځلسمې مادې پر بنسټ مالیې وزارت ته ورکړل شوی دی.

د مالیې وزارت د منلو وړ پانګونې په خاطر د خپلو اضافي بسپنو لپاره لاندې اصول په پام کې ونیسی:

- د پانګونې د اصولو تضمین؛
- د پانګونې موده؛
- په پیسو باندې د پانګونې بدلون؛
- د پانګونې تنوع؛
- په بهرنیو اسعارو باندې د افغانیو بدلون د خطر کموالی.

د هغو بسپنو مقدار چې وخت په وخت پرې پانګونه تر سره کیږي، د مالیې وزارت د مختلفو ادارو لکه د بودجې لوی ریاست د نظریاتو په پام کې نیولو سره، د نغدي بسپنو د اداري، د پورونو او د شتمنیو د برابرولو څانګه د مالیې وزارت د خزاینو د لوی ریاست لخوا تنظیمیږي.

د نوموړې استراتیژۍ د پلې کیدو څخه د مالیې وزارت موخه د افغانستان بانک سره په ګډ ډول کار کول دي، تر څو د پانګونې په برخه کې د سیما له لارې ګټه ترلاسه کړي چې اوسمهال پکې بانکي سستم کارول کیږي. ټولې پانګونې د بازار د شرطونو سره سمې تر سره کیږي.

### 1.1 د افغانستان د اسلامي جمهوریت زاړه او نوي پورونه

د نړیوالو اصولو سره سم بهرنيي پورونه د پور ورکوونکو هیوادونو او د افغانستان د اسلامي جمهوریت تر منځ د یوه هوکړه لیک پر بنسټ تنظیم او اداره کیږي. په نوموړو هوکړه لیکونو کې یادونه کیږي چې پور په کومو برخو کې مصرفیږي، او پور ورکوونکي هیوادونه باید د هغو پروژو په اړه معلومات ولري چې پورونه پکې مصرفیږي.

د پور ورکوونکو هیوادونو لخوا د پورونو ورکړه او تادیه د تړون سره سم په قسطونو باندې د تادیې وړ ده. په ټولیز ډول د افغانستان د اسلامي جمهوریت پورونه پرمختیایي پروژې دي، چې په دوه ډوله دي:

1- بې له ټکټاني پورونه

بې له ټکټاني پورونه چې د اصلي پور قسطونه یې د بیرته تادیې وړ دي، لکه د سعودي پرمختیایي صندوق پورونه.

2- د اداري لګښتونو لرونکي او هغه پورونه چې د نه مصرف په صورت کې پرې فیس وضع کیږي.

د اداري لګښتونو لرونکو او هغه پورونو چې د نه مصرف په صورت کې پرې مالیات راځي، د مالیاتو تادیه د تړون له مخې د شپږو میاشتو په موده ( شپږ میاشتي په شپږ میاشتي) کې تادیه کیږي، لکه د آسیا پرمختیایي بانک، اسلامي پرمختیایي بانک او د نړیوال بانک اړونده پورونه. له هغه مبالغو څخه چې پور ورکوونکې یې د پورورې په واک کې ورکوي او پوروړې ونشي کولای چې نوموړې مبالغ د یو لړ پروژوي ستونزو له امله وکاروي، پدې صورت کې یو ډول ځانګړی فیس د تادیې وړ دی، چې د ژمنې یا تعهد د فیس په نامه یادیږي چې نوموړې شرایط د نړیوال بانک په ټولو پورونو کې د پلې کیدو وړ دي. دغه ډول فیسونه په ټولو هیوادونو کې یو ډول تطبیق کیږي او له نیکه مرغه نوموړې فیسونه په دې وروستیو کې تقریباً د صفر کچې ته راټیټ شوي دي.

**سهیمه ( د غړیتوب حق):** د افغانستان اسلامي جمهوریت د (1955) زیږدیز کال کې د نړیوال وجهي صندوق غړیتوب تر لاسه کړ او په ربعوار ډول هر کال د غړیتوب حق ورکول کیږي.

باید یادونه وشی چې:

- په مجموعي ډول د نړیوال بانک سره په 9 پورونو هوکړه شوې، چې 432 میلیونه امریکایي ډالره کیږي چې د دې مجموعې څخه 415 میلیونه امریکایي ډالره افغانستان ته ورکړل شوي دي. اوتر دې دمه د افغانستان دولت هیڅ ډول تادیه نده تر سره کړې او د ټولو پیسو پوروړې دې.
- د اسیا پراختیایي بانک د پورونو شمیر14 ته رسیږي، چې 804 میلیونه امریکایی ډالره کیږي چې له دې مجموعې څخه د 686 میلیونه امریکایي ډالرو په کچه پوروړی دی.
- داسلامي پراختیایی بانک د 4 پورونو مجموعه 68 میلیونه امریکایی ډالر کیږي چې له دې مجموعې څخه 32 میلیونه امریکایی ډالرو په کچه پوروړی دی.
- د سعودی پراختیایی صندوق د 2 پورونو مجموعه 80 میلیونه امریکایی ډالره کیږي، چې له دې مجموعې څخه 47 میلیونه افغانستان ته ورکړل شویدي. تر دې دمه د افغانستان دولت دا پیسې ندي ورکړي او د ټولو پیسو پوروړی دی.
- د نړیوال وجهي صندوق (IMF) ټول پورونه د 245 میلیونه امریکایی ډالرو څخه زیاتیږي، چې له دې مجموعې څخه د 117میلیونه امریکایی ډالرو په کچه پوروړی دی.

**افغانستان د اسلامي جمهوریت د پورونو مجموعي ښښنه د پورونو د ښښوونکو هیوادونو او د ښښنې د اعلان د نیټې په تفکیک:**

- چین هیواد د 2004 زیږدیز کال د مارچ په میاشت کې له 9.6 میلیونه پونډ څخه په زیاته کچه پورونه ښښلي دي، چې د18.80 میلیونه امریکایي ډالرو سره برابر دی.
- ډنمارک دولت له 5 میلیونه کرونو څخه په زیاته کچه پور ښښلی دی، چې 0.90 میلیونو امریکایي ډالرو سره برابر دی؛
- سلواک دولت د 2005 زیږدیز کال د جنورې په میاشت کې له 29.34 میلیونه امریکایي ډالرو څخه په زیاته کچه پورونه ښښلي دي.
- جرمني دولت د 2002 زیږدیز کال د سپتمبر په میاشت کې له 34.5 میلیونه سټرلنګ پونډه څخه په زیاته کچه پورونه ښښلي دي چې د 67.51 میلیونه امریکایي ډالرو سره برابر دي؛
- جرمني دولت د 2007 زیږدیز کال د اپریل په میاشت کې له 29.6 میلیونه امریکایي ډالرو څخه په زیاته کچه پورونه ښښلي دي؛
- روسیې دولت د 2007 زیږدیز کال د اګست په میاشت کې له 10,316.22 میلیونه امریکایي ډالرو څخه په زیاته کچه پورونه ښښلي دي؛
- سعودي عربستان شاهي دولت د 2008 زیږدیز کال د جنورې په میاشت کې له 12.8 میلیونه سټرلنګ پونډ چې ۲۴ میلیونه امریکایي ډالره کیږي، پورونه ښښلي دي؛
- عراق دولت د 2008 زیږدیز کال د مې په میاشت کې له 9.5میلیونه امریکایي ډالرو څخه زیات معافیت کړی دی؛
- کروشیا دولت له0.41میلیونه امریکایي ډالرو څخه زیات پورونه ښښلي دي؛
- نړیوال پراختیایي بانک په د مې 26 په کال 2010کې د 69.8 میلیونه امریکایي ډالرو په کچه پور ښښلی دی؛
- د امریکا د متحده ایالاتو د جولای 22 په کال2010 کې د 108.5 میلیونه امریکایي ډالرو په کچه پور ښښلی دی؛
- د پخواني جرمني جمهوری دیموکراتیک هیواد په د مارچ 17 په کال 2010 کال د 17 میلیونو ډالرو په کچه ښښلي دي؛

باید یادونه وشي چې د افغانستان د اسلامي جمهوریت د پورونو مجموعي معافیت له 1381 کال څخه د 1392 کال د دویمې ربعې پورې له 12,381.78 میلیارده امریکایي ډالرو څخه زیات ښودل شوی دی.

**هغه مجموعی پورونه چې د افغانستان اسلامي جمهوریت یې باید په راتلوونکي کې بیرته تادیه کړي او یا یې ښښنه تر لاسه کړي په لاندې ډول دي:**

**<u>د پخوانیو کلونو پورونه:</u>**

- کویت پرمختیایي پورونه چې له 21.9 میلیونه امریکایی ډالرو څخه زیات دي؛
- ایران پورونه چې 9.99 میلیونه امریکایی ډالر کیږي؛
- اوپک د پرمختیایي صندوق پورونه چې له 1.94 میلیونه امریکایی ډالرو زیات دي؛
- بلغاریا دحکومت پورونه چې 51.04 میلیونه امریکایی ډالره کیږي.

## د ماليي وزارت

## د خزاینو لوی ریاست

## د پورونو د اداری کلنی راپور

ارقام په میلیون افغانی

### د 1392 د دوهمی ربعی تر پای پوری

| | منل شوی مبالغ<br>A | باقی مقروضیت از مبلغ استفاده شده به شمول افزایش مصارف اداری الی اخیر ربع دوم سال 1392<br>B | مبلغ استفاده شده از اصل قرضه ازشروع ربع سوم سال 1391 الی اخیر ربع دوم سال 1392<br>C | باز پرداخت اصل قرضه<br>D | معافیت اصل قرضه<br>E | افزایش مصارف اداری<br>F | تغیرات اسعاری<br>G | باقی مقروضیت از مبلغ استفاده شده به شمول افزایش مصارف اداری الی اخیر ربع دوم سال 1391<br>H =B+C-D-E+F-G | باز پرداخت مصارف اداری | معافیت مصارف اداری |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| **جاری قرضونه** | | | | | | | | | | |
| نریوال پرمختیایی بانک | 26,617.2 | 21,694.3 | 348.1 | 0.0 | 0.0 | 0.0 | -1,840.0 | 23,882.4 | 124.9 | 62.9 |
| د اسیا پرمختیایی بانک | 43,079.6 | 35,601.4 | 1,187.0 | 17.7 | 71.3 | 2,068.8 | -642.1 | 39,410.2 | 2.5 | 0.8 |
| اسلامی پرمختیایی بانک | 3,850.7 | 1,282.1 | 271.1 | 0.0 | 0.0 | 0.0 | -292.7 | 1,845.9 | 0.0 | 0.0 |
| دسعودی پرمختیایی بانک | 4,584.8 | 2,437.9 | 0.0 | 0.0 | 0.0 | 0.0 | -261.6 | 2,699.5 | 0.0 | 0.0 |
| د امریکا متحده ایالات | 0.0 | 0.0 | 0.0 | 0.0 | 0.0 | 0.0 | 0.0 | 0.0 | 0.0 | 0.0 |
| جرمنی | 0.0 | 0.0 | 0.0 | 0.0 | 0.0 | 0.0 | 0.0 | 0.0 | 0.0 | 0.0 |
| اوپک فند | 102.3 | 93.0 | 0.0 | 0.0 | 0.0 | 0.0 | -9.3 | 102.3 | 0.0 | 0.0 |
| نړیوال وجهي صندوق | 13,902.3 | 6,882.4 | 589.7 | 0.0 | 0.0 | 0.0 | 732.0 | 6,740.1 | 0.0 | 0.0 |
| **د جاري پورونو مجموعه** | ***92,137.0*** | ***67,991.0*** | ***2,395.9*** | ***17.7*** | ***71.3*** | ***2,068.8*** | ***-2,313.7*** | ***74,680.5*** | ***127.4*** | ***63.8*** |
| **نورو قروض** | | | | | | | | | | |
| بلغاریا | 3,284.6 | 2,537.6 | 0.0 | 0.0 | 0.0 | 551.7 | 489.8 | 2,599.5 | 0.0 | 0.0 |
| کویت فند | 1,635.3 | 1,142.0 | 0.0 | 0.0 | 0.0 | 551.7 | 441.3 | 1,252.3 | 0.0 | 0.0 |
| ایران | 624.0 | 529.8 | 0.0 | 0.0 | 0.0 | 57.8 | 5.0 | 582.6 | 0.0 | 0.0 |
| **دنوروپورونه مجموعه** | ***5,543.9*** | ***4,209.4*** | ***0.0*** | ***0.0*** | ***0.0*** | ***1,161.1*** | ***936.1*** | ***4,434.4*** | ***0.0*** | ***0.0*** |
| تقویه سرمایه بانک مرکزی | 41,352.5 | 37,921.5 | 0.0 | 3,108.6 | 0.0 | 0.0 | 2,066.7 | 32,746.2 | 0.0 | 0.0 |
| **دقروض مجموعه** | **139,033.4** | **110,122.0** | **2,395.9** | **3,126.3** | **71.3** | **3,229.9** | **689.2** | **111,861.0** | **127.4** | **63.8** |

**د بودجې د اجراء لارښود**

دغه لارښود ټکي د بودجې د اجرا کړنلاره بیانوي.

د بودجې د مقرراتو سره سم د بودجې د اجرا او نظم په موخه لاندې ټکي اړین بلل کیږي:

1. د وزیرانو شورا د تائید، د ملي شوراې لخوا د دبودجې د تصویب او د ولسمشر د توشیح څخه وروسته بودجه نهایي ګڼل کیږي او بودجوي واحدونه مکلف دي چې خپل ټول پلانونه او اجراآت د نهایي ارقامو سره برابر کړي. د مالیې وزارت د بودجې لوی ریاست د بودجې او د تخصیصونو د اجراکول دنده په وخت سره او بې له کوم ځنډه پر غاړه لري.
2. ټول وزارتونه باید خپل مالي او تدارکاتي پلانونه د مالیې وزارت د متحدالمال سره سم د مالي کال د پیل څخه د مخه د بودجې په اړه د وزیرانو د شورا د مسودې سره سم د فصلونو پر بنسټ لګښتونه او ولایتونه په میاشتیني ډول د عادي او پرمختیایي بودجو په برخه کې تر تیب کړي او د بودجې لوې ریاست ته دې ولیږدوي، د دې تر څنګ باید خپل ټول لګښتونه د مالي او تدارکاتي پلانونو سره سم چمتو کړي.
3. د تدارکاتو د قانون د (21) مادې د (1) فقرې پر بنسټ، تر هغه پورې چې عامه وجوه ( بودجه) د مالي چارو او لګښتونو د قانون سره سم منظور شوي نه وي، هیڅ ډول تدارکات نشي تر سره کیدلای، مګر کله چې د وزیرانو د محترمې شورا لخوا د 1393 کال بودجه تصویب شي، بودجوي اداري کولاې شي د وخت د سپما په موخه د تدارکاتو لومړنی چارې پیل کړي. خو د قرارداد عقد باید یوازې د ولسي جرګې د تصویب څخه وروسته تر سره شي.
4. د مالي چارو او عامه لګښتونو د قانون د 37 مادې پربنسټ (دولتي اداري باید د بودجې دکړنلارې (دغه سند) چې د نوموړي قانون (د مالي چارو او عامه لګښتونو) د حکمونو سره سم ترتیب او د ولسي جرګې له لخوا تصویبیږي، اجراات وکړي، د قوانینو سره د ټکر په صورت کې د نوموړې کړنلاري احکامو ته ترجیح ورکول کیږي.
5. د ساختماني پروژو په برخه کې لکه د دولتي ادارو، وزارتونو، او ټولو بودجوي واحدونو لپاره د ودانیو په جوړولو کې د کار د چټکتیا او د وخت د سپما په موخه، په هغه صورت کې چې په خپل تشکیل کې ساختماني انجینران ولري، مکلف نه دي چې د نقشې د ترلاسه کولو او نورو ساختماني چارو لپاره د ښاري پراختیا وزارت ته مراجعه وکړي. په دې برخه کې هر ډول پریکړه د اړونده وزارت له صلاحیتونو او مسؤولیتونو څخه ده.
6. له یوه باب څخه بل باب ته تعدیلات د مالیې وزارت د صلاحیتونو څخه دي، ټول قراردادونه او خریداریٔ باید د منظور شوې بودجې او بودجوي فصلونو کې تنظیم کړای شي، هیڅ بودجوي واحد نشي کولاې چې د ټاکل شوې بودجې څخه پورته د خدمتونو او اجناسو قرارداد لاسلیک کړي.
7. د 1393مالي کال بودجه د هر څپرکی د جزئیاتو په پام کې نیولو سره محاسبه شوی ده او بودجوي واحدونه مکلف دی چې د هر فصل په اړانه کې خپل لګښتونه تنظیم کړي. د تیرو کلونو باقیات د 1393 مالي کال د بودجې څخه د اجرا وړ نه دي، مګر که چیرې د بودجې لوی ریاست د ارزوني او تحلیل وروسته پدې اړوند خپله لیکلې موافقه وښیې. په همدې توګه ټول بودجویي واحدونه پدې مکلف دي چې په هر مالي کال کې په خپل وخت د تدارکاتو، د توکو او خدمتونو د تهیه کولو قرارداد او د باقیاتو د ادا کول د همغه کال په جریان کی تر سره کړي.
8. د 1393 کال په بودجې کې لاندې فصلونه د نورو فصلونو سره د تعدیل وړندي:

معاشونه، اعاشه، د برېښنا لګښت، اوبه، پاکوالی، د مخابراتو محصول، حفظ او مراقبت، د وسایطو ترمیمول او د تعمیراتو بیا رغونه. البته په ممنوعه فصلونو کې تعدیلو د مالیې وزارت د واکوونو څخه دي.

9. له ټولو فصلونو او کودونو څخه اوپراتیفي فصلونو ته تعدیل مجاز نه دی.
10. د بودجې د اجراء، تعدیل او یا ورکړې په اړه یوائې د وزراتونو او اړونده ادارو چاراوکي کولاې شي چې د مالیې وزارت له چاراوکو سره اړیکې ونیسي. هیڅ یو ترون کوونکی حق نلري چې نیغ په نیغه د مالیې وزارت سره اړیکې ټینګې کړي، مګر پرته له هغه رسمي حالاتو چې دواړه وزارتونه یې اړین وګڼي.
11. هر هغه نوی قانون او یا مقرره چې د ملکي او یا نظامي مامورینو په معاشونو، حقوقو او یا امتیازاتو کې د زیاتوالي، د تشکیل زیاتوالي او یا هم مالی او مصرفي اغیزمنتوب پکښې نغښتې وی چې د دې سند ( ملي بودجې) سره سمون و نلري، د اجرا وړ نه دی. په هغه صورت کې چې کوم نوی قانون او یا لایحه تصویب شي، د امتیازاتو او حقوقو او نویو لګښتونو اجرا کول د هغې پر بنسټ په راتلونکي مالي کال کې به اجراء شي

12. وزارتونه او اداري مکلفي دي چې خپل تشکیلونه د مرکز او ولایتونو په تفکیک د تشکیلاتو د کمیسیون لخوا د تایید شوي سقف سره سم چمتو کړي او د مالي کال په اوږدو کې باید د تشکیل د هر ډول زیاتوالي څخه په جدي توګه ډډه وکړي. البته اداري مکلفې دِچې د باالمقطع کارکوونکو په دنده ګمارلو نه تر ډیره بریده ډډه وکړي ترڅو د رتبو او معاشونو بهیر د خنډ نه مخ نیوی وشِ

13. د دولت ټول کارکونکي ( لوړ رتبه او ټیټ رتبه) نشي کولای چې په رسمي وخت کې له دوه مرجعو څخه معاش تر لاسه کړي.

14. ساختماني قراردادونه باید د کاري حجمونو د اټکل له مخې نه بلکه د یوه ثابت قیمت پر بنسټ تر سره شي.

15. د ساختماني کارونو په قراردادونو کې د کار د پیل څخه د مخه د هر ډول اضافه کارئ لپاره د پروژې د بسپنه ورکوونکي سره د اختیاري بسپنو په صورت کې د مالیې وزارت د بودجې د لوې ریاست کتبي هوکړه اړینه ده.

16. د لګښتونو په اجرا کې باید د تداراکاتو د قانون لارښود ټکو، د تدارکاتو د کړنلارې لارښود ټکو او د مالیې وزارت متحدالمالونو ته په جدي توګه پاملرنه وشي.

17. د مالیې وزارت د قانون له مخې د تدارکاتو د کړنلارو او پالیسیو د رامنځته کولو مسؤولیت په غاړه لري. هر ډول شکایت او معلومات باید په لومړي پړاو کې د اړونده مراجعو څخه د تدارکاتو د پالیسئ څانګې ته چې په نوموړي وزارت کې موقعیت لري وړاندې شي، تر څو نوموړې اداره د تدارکاتو د قانون په چوکاټ کې د نوموړي شکایتو په اړوند اړین مالومات او لارښوونې وړاندې او اجراآت تر سره کړي.

18. د مالیې وزارت او د تدارکاتو څانګړې کمیټه نشي کولای چې قراردادونه د څرګندو او معقولو لاملونو پرته د 21 کاري ورځو څخه زیات له ځان سره و ځنډوي، له دې پرته د تدارکاتو د قانون سره سم اجراآت تر سره شي.

19. د مالیې وزارت باید د7 کاري ورځو په لړ کې هرې موضوع او هر مکتوب ته چې نوموړي وزارت ته راجع کیږې، لازم ځواب ووایي.

20. اړونده وزارتونه په بشپړه توګه د پروژو د کیفیت، په خپل وخت باندې د پروژو د پلي کولو او د تدارکاتو په ګډون د هغو مسایلو په اړه د راپور ورکولو مسؤولیت په غاړه لري چې د مرستندویه هیوادونو د مرستو په کارولو کې مثبت بدلونونه رامنځته کوي.

21. د بودجې کمیټه باید لږ تر لږه په میاشتې کې یو ځل غونډه جوړه کړي تر څو د هغو پرمختیایي پروژو په اړه پریکړې تر سره کړي چې د احتیاطي بسپنو د لست څخه پرمختیایي پروژو ته د انتقال ټول معیارونه پوره کړي وڅیړل شي او په اړه یې پریکړې ترسره شي.

22. هغه پروژې چې د دوه کلونو په تیریدو سره یې هیڅ ډول پرمختګ نه وي کړای، د بودجې کمیټې ته له وړاندې کیدو وروسته په سملاسي توګه د لست څخه ایستل کیږي، مګر داچې د نه پرمختګ او یا د لږ پرمختګ لپاره قانع کوونکي دلایل وړاندې کړیاو یا دا چې د بودجې په سند کې پاتې شوي ارقام د تادیاتو، تامیناتو او د پروژو د اجراءکولو په تضمین کې موجودې وی

23. (الف) پرمختیایی بودجه د اختیاري او غیر اختیاري بسپنو څخه جوړه شوې ده، او د کال په پیل او نیمایي کې د ملي شورا لخوا تصوېبیږې، خو د اختیاري پروژو د تمویل پریکړه د افغانستان د اسلامي جمهوریت واک او د غیر اختیاري پروژو (انتقالی او نوی) د تمویل پریکړه د مرستندویانو له واکونو څخه دي. په همدې توګه که چیرې د مالي کال په بهیر کې غیر اختیاري لاسته راوړل شوي او ویستل شوي بسپنو په هکله د مالیې وزارت کولای شي چې د هغو پرمختیایی انتقالي پروژ ي د بودجې سره ضمیمه یا مل کړی چې د ولسي جرګې له خوا تصویب شوی وی چې په هماغه وخت کې به یې مالومات ملی شورا ته ولیږدول شي.

(ب) د عادی ضمیمه د غیر اختیاري بسپنو نه د مؤجه اړتیاو او دجمهوری ریاست د عالي مقام د لارښود او د مرستندویانو د هوکړې پربنسټ د اجراء وړ ده او په همغي وخت کې ورکړل شوي مالومات به ملی شورا ته لیږدول کیږي.

24. که چیرې د مالي کال په اوږدو کې د پلان شوي عوایدو په پرتله راغونډ شوي عواید زیات وي او یا د تیرو کلونو د ذخیره شوې اختیاري بودجې په صورت کې د مالیې وزارت کولای شي چې د عوایدو هغه اضافي برخه د منظور شوې پراختیایي بودجې د کسر د تمویل لپاره وکاروي.

25. په خپل وخت باندې د منظورې شوې بودجې د پلي کولو او د هغې څخه په اغیزمنه توګه د ګټې اخیستلو په موخه، هغه پروژې چې د بودجوي واحدونو لخوا وړاندې کیږي باید په لومړي ګام کې د تیارئ سره تړلی موضوعات بشپړ شي، لکه: د اسنادو ترتیبول، د ځمکې او جایداد برابرول، عملي څیړنه، د لګښتونو اټکل او د قرارداد له مخی د پروژې د بشپړتیا د نیټې سره سم پروژه بشپړ، او وروسته دې د تمویل په برخه کې ګامونه پورته شي.

26. د ادارو د پرمختیایی بودجې په اړه: هره اداره باید د پروژو په پلان جوړونه کې د زیاتې پاملرنې څخه کار واخلي، د کره مطالعې او د پروژو د جوړولو څخه وروسته دې د مالیې وزارت څخه د بسپنو غوښتنه وکړي. د یادولو وړ ده چې د پرمختیایی بودجې د اجرا پر مهال باید د مالي چارو او عامه لګښتونو د تنظیم مقرره، د تدارکاتو قانون او د بودجې کړنلارې ته جدي پاملرنه وشي.

27. د مالي چارو په اړه هر راز اړیکې چې د بودجوي واحدونو او مرستندویانو تر منځ ټینګیږي، باید د مالیې وزارت هم په جریان کې و اوسي.

28. د لوړو زده کړو، د علومو اکادمي، او د زده کړو د نورو مؤسسو ښوونکي چې په نورو بودجوي واحدونو، تصدیو او دولتي ادارو کې په کار ګمارل شوي وي، د علمي کادر له امتیاز څخه ګټه نشي پورته کولای.

29. اداري نشي کولای چې د مرستندویانو د شفاهي ژمنو پربنسټ تړون وکړي، په دې اړه د بسپنه ورکولو لپاره لیکلې ژمنه اړینه ده او دا کړنه د مالیې وزارت د موافقې وروسته ترسره کیږي.

30. په هیواد کی ټول تړونونه او د پیسو راکړه ورکړه باید په افغانیو تر سره شي. هغه تړونونه او د پیسو ورکړې چې له هیواد څخه بهر ترسره کیږي، له دې امر څخه مستثنی دي. او په قراردادونو کی یوازې یو ډول اسعار وکارول شي.

31. ټولې اداري او بودجوي واحدونه دنده لري ترڅو د خپلو اجراآتو راپور د مالیې وزارت د لارښود سره سم د دوو اونیو په اوږدو کې د هرې ربعې د ختمیدو وروسته د مالي کال د پیل څخه تر مشخصې ربعې د مالیې او اقتصاد وزارتونو ته وسپاري. د مالیې وزارت دنده لري تر څو د اړوندو ادارو د راپورونو د تر لاسه کولو وروسته په راتلونکو دوو اونیو کې یو توحیدي راپور بشپړ او د ولسي جرګې مالي او بودجوي کمیسیون ته ولیږي.

32. 1393مالي کال د 1393کال د مرغومې میاشتې د لومړۍ نیټې څخه پیل او د 1393 کال د لیندۍ د میاشتې تر 30 نیټې پورې دوام کوي.

33. د اساسي قانون د 98 مادې او د مالي چارو او عامه لګښتونو د قانون د یو څلویښتمې مادې د دویمې فقرې پربنسټ د پرمختیاي پروژو په وخت پلې کولو او د پرمختیاي بودجې د لګښتونو د لوړولو و او نړیوالې ټولنې دمرستو لاسته راوړلو په موخه د ملي بودجې په سند د شته انتقالي پروژو بسپنې د ملي بودجې تر منظورۍ پورې د اجرا وړدي.

34. د 1393 کال پرمختیایی بودجه په دوه برخو ویشل شوې ده (انتقالي او نوې بودجه)، چې انتقالي بودجه د لګښتونو پر بنسټ د 1392 کال د مرغومې د میاشتې د لومړۍ نیټې څخه د لیندۍ د میاشتې تر پایه پورې اټکل او محاسبه شوې ده. د دې لپاره چې د 1392 کال د بودجې لګښتونه نهایی نه شمیرل کیږي، په دې ترتیب رښتیني انتقالي بودجه د قطعیې د جوړولو څخه وروسته پای ته رسیږي.

35. ټولې هغه اداري چې د ملي بودجې له لارې مالي بسپنې تر لاسه کوي، مکلف دي چې نوموړې منظور شوی پیسې (پرمختیایی بودجه) مصرف کړي او د نوموړو لګښتونو په اړه ولسي جرګې ته ځواب ووایي، خو د ستونزو د شتون په صورت کې باید د هغوی د هوارولو لپاره د مالیې وزارت سره په کتبي ډول اړیکې ونیسي.

36. د پرمختیایي بودجې د کسر او د جمهوري ریاست د 1391 کال د 45 فرمان پر بنسټ چې د ملکي مامورینو او د پروژو د مامورینو د معاشونو تر منځ ډیر توپیر شتون لري، د پرمختیایي پروژو د هغو کارمندانو تنخواګانی چې له 50000 افغانیو څخه زیاتی وي، په 1393 کال کی 1391 مالي کال د مرغومې د میاشتې د پیل څخه به ٪10 کموالی مومي، همدارنګه په ټولیزه توګه میاشتني معاشونه باید د 250000 افغانیو څخه زیات نشي.

37. هغه پرمختیایی احتیاطي بودجه چې د 11 کم پرمختللو ولایتونو او 23 نورو ولایتونو لپاره ځانګړې شوي ده، پروژه یي باید د نوموړو ولایتونو د پرمختیایي شوراګانو لخوا څخه د هغوی د پرمختیایي پلان مطابق د اړوندو ولایتونو څخه وزارت ته واستوي ترڅو مالیې وزارت نوموړي پیشنهادونه د تصویب لپاره د بودجې کمیټې ته وړاندې کړي. البته د دې ډول پروژو ټول تدارکاتي او تادیاتي پروسه د ولایتونو په سطح صورت نیسي. مالیې وزارت به تخصیص د منظور شویو پروژو پر اساس ولایتونو ته انتقال کړي او ولایتونه مکلف دي چې د منظور شوې بودجې په محدوده کې خپل اجراات عیار کړي.

38. هغه وزارتونه او اداري چې د حفظ او مراقبت د لګښتونو په بهیر کې شامل شوي دی باید هوکړه شوي ولایتی تخصیصونه، او یادي شوي بسپنې د مالي کال په پیل کې ټولو ولایتي ادارو ته ابلاغ کړي او د مالي پلان پربنسټ دی ولایتي ادارو ته ولیږدوي، تر څو ورستنیني کړنې د ولایتونو په کچه ترسره شي. دغه بسپنې بې له کوم مؤجه دلایلو او د بودجې د لوي ریاست هوکړې نه پرته د یو ولایت نه بل ولایت ته د تعدیل وړ ندي

39. بودجوي واحدونه کولاي شي چې د عادی بودجې او د اختیاری پروژو ټول تدارکاتې بهیر د خپلو اړونده ریاستونو لخوا ترسره کړي. د تمویل کوونکو د هوکړې پربنسټ، اداري کولاي شي چې د خپلو غیراختیاري پروژو تدارکات د پرمختایي پروژو د تخنیکې مشاورینو، یا د مرسته کوونکي اداري د استازي ترمخه ترسره کړي. البته د مالیې وزارت هوکړه د اختیاری پروژو په قراداد کې چې د بودجې رقم یې د منظوري شوي بودجې نه زیاته وي حتمي ګڼل کیږي. بودجوي واحدونه کولاي شي د اداری د اړتیا په وخت کې خپل تدارکات د ARDS لخوا مخته بوزي.

40. د بهرنیو چارو وزارت باید د باالمقطع کارکوونکو په دندو ګمارلو نه تر ډیره بریده مخنیوي وکړي. هیڅ کارکوونکې نشي کولاي چې هیواد نه بهر په خدمتي ډول وګمارل شي. د خدمتي کارکوونکو ګمارل په سفارتونو او دیپلماتیکو دفترونو کې د منظور شوي تشکیل پربنسټ د بهرنیو چارو د وزارت دنده ده. د بهرنیو چارو وزارت مکلف دي چې د هیواد نه بهر د ځایي کارکوونکو د معاشونو او امتیازاتو نورم د مالیي وزارت سره په همغږي جوړ او اجراء کړي.

لومري جدول: د 1393-1392 مالی کلونو د بودجی پرتله

ارقام په زر (000)

| سکتور - وزارت | عادی بودجه 1392 - 1393 | | | | پرمختیایی بودجه 1392 - 1393 | | | | دملی بودجی مجموعه 1392 - 1393 | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | 1392 | 1393 | توپیر په ارقامو | توپیر په% | 1392 | 1393 | توپیر په ارقامو | توپیر په% | 1392 | 1393 | توپیر په ارقامو | توپیر په% |
| د امنیت سکتور | | | | | | | | | | | | |
| د ملی امنیت شورای | - | 88,482 | 88,482 | 0% | - | - | - | 0% | - | 88,482 | 88,482 | 0% |
| د ملي امنیت لوي ریاست | 9,596,871 | 11,071,374 | 1,474,503 | 15% | 130,477 | 148,136 | 17,659 | 14% | 9,727,348 | 11,219,510 | 1,492,162 | 15% |
| د ولسمشر د ساتنې ریاست | 855,682 | 944,459 | 88,777 | 10% | 166,529 | 139,454 | (27,075) | -16% | 1,022,211 | 1,083,914 | 61,703 | 6% |
| د بهرنیو چارو وزارت | 2,570,500 | 3,200,000 | 629,500 | 24% | 857,743 | 1,246,686 | 388,943 | 45% | 3,428,243 | 4,446,686 | 1,018,443 | 30% |
| **د کورنیو چارو وزارت** | **50,495,994** | **62,237,516** | **11,741,521** | **23%** | **8,234,045** | **4,787,402** | **(3,446,643)** | **-42%** | **58,730,039** | **67,024,917** | **8,294,878** | **14%** |
| د افغانستان د دولت لخوا تمویلیږي | 8,328,584 | 9,530,000 | 1,201,416 | | - | - | - | | 8,328,584 | 9,530,000 | 1,201,416 | |
| بهرني مرستې | 42,167,411 | 52,707,516 | 10,540,105 | | - | - | - | | 42,167,411 | 52,707,516 | 10,540,105 | |
| **د ملي دفاع وزارت** | **63,048,394** | **102,070,542** | **39,022,148** | **62%** | **17,014,156** | **3,105,424** | **(13,908,732)** | **-82%** | **80,062,550** | **105,175,966** | **25,113,416** | **31%** |
| د افغانستان د دولت لخوا تمویلیږي | 12,136,123 | 12,500,000 | 363,877 | | - | - | - | | 12,136,123 | 12,500,000 | 363,877 | |
| بهرني مرستې | 50,912,272 | 86,070,542 | 35,158,270 | | - | - | - | | 50,912,272 | 86,070,542 | 35,158,270 | |
| **مجموعه** | **126,567,442** | **179,612,374** | **53,044,932** | **42%** | **26,402,949** | **9,427,101** | **(16,975,848)** | **-64%** | **152,970,391** | **189,039,475** | **36,069,084** | **23.6%** |
| د حکومتداری، د قانون د حاکمیت او بشري حقونو سکتور | | | | | | | | | | | | |
| د اداري درغلیو په وړاندې د مبارزې عالي اداره | 129,027 | 156,720 | 27,693 | 21% | 32,168 | 151,200 | 119,032 | 370% | 161,196 | 307,920 | 146,724 | 91% |
| د سیمه ایزو ارګانونو خپلواکه اداره | 2,394,300 | 2,431,680 | 37,380 | 2% | 1,275,741 | 1,978,438 | 702,697 | 55% | 3,670,041 | 4,410,118 | 740,077 | 20% |
| د دولت د ریاست دفتر | 1,665,750 | 1,783,469 | 117,719 | 7% | 413,323 | 314,089 | (99,234) | -24% | 2,079,073 | 2,097,558 | 18,485 | 1% |
| د چارو د اداري لوی ریاست او د وزیرانو د شورا دار الانشا | 702,663 | 750,000 | 47,337 | 7% | 257,074 | 189,154 | (67,919) | -26% | 959,737 | 939,154 | (20,583) | -2% |
| ستره محکمه | 1,319,787 | 3,000,934 | 1,681,147 | 127% | 293,257 | 320,720 | 27,463 | 9% | 1,613,044 | 3,321,654 | 1,708,610 | 106% |
| مشرانو جرګه - ملی شورای | 514,953 | 518,838 | 3,885 | 1% | 127,308 | 69,913 | (57,395) | -45% | 642,261 | 588,751 | (53,510) | -8% |
| ولسی جرګه - ملی شورای | 1,185,906 | 1,252,007 | 66,101 | 6% | 28,485 | 41,671 | 13,186 | 46% | 1,214,390 | 1,293,678 | 79,287 | 7% |
| لوی څارنوالي | 986,546 | 1,163,899 | 177,353 | 18% | 218,709 | 266,404 | 47,695 | 22% | 1,205,255 | 1,430,303 | 225,047 | 19% |
| د حج، ارشاد او اوقافو وزارت | 720,441 | 789,854 | 69,413 | 10% | 259,480 | 303,924 | 44,444 | 17% | 979,922 | 1,093,778 | 113,857 | 12% |
| په پارلماني چارو کې د دولت وزارت | 86,202 | 79,249 | (6,953) | -8% | 26,000 | 37,773 | 11,773 | 45% | 112,202 | 117,022 | 4,820 | 4% |
| د عدلیې وزارت | 588,186 | 601,231 | 13,045 | 2% | 317,359 | 499,161 | 181,802 | 57% | 905,545 | 1,100,392 | 194,847 | 22% |

| سکتور - وزارت | عادی بودجه 1392 - 1393 | | | | پرمختیایی بودجه 1392 - 1393 | | | | دملی بودجی مجموعه 1392 - 1393 | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | 1392 | 1393 | توپیر په ارقامو | توپیر په% | 1392 | 1393 | توپیر په ارقامو | توپیر په% | 1392 | 1393 | توپیر په ارقامو | توپیر په% |
| د اداري اصلاحاتو او د ملکي خدمتونو خپلواک کميسيون | 312,252 | 336,168 | 23,916 | 8% | 506,370 | 370,063 | (136,307) | -27% | 818,622 | 706,231 | (112,391) | -14% |
| د ټاکنو خپلواک کميسيون | 123,231 | 153,463 | 30,232 | 25% | 24,413 | 75,422 | 51,009 | 209% | 147,644 | 228,885 | 81,242 | 55% |
| د اساسي قانون پر پلي کولو د څار خپلواک کميسيون | 79,808 | 67,269 | (12,539) | -16% | - | - | - | 0% | 79,808 | 67,269 | (12,539) | -16% |
| د بشری حقونو خپلواک کميسيون | - | 44,000 | 44,000 | | 64,687 | 53,216 | (11,470) | -18% | 64,687 | 97,216 | 32,530 | 50% |
| دانتخاباتو شکايتونوخپلواک کميسيون | - | 100,000 | 100,000 | | - | - | - | | - | 100,000 | 100,000 | |
| **مجموعه** | **10,809,051** | **13,228,781** | **2,419,730** | **22%** | **3,844,374** | **4,671,148** | **826,774** | **22%** | **14,653,425** | **17,899,929** | **3,246,504** | **22.2%** |
| **د زيربناوو او طبيعی زيرمو سکتور** | | | | | | | | | | | | |
| د ټولګټو وزارت | 517,641 | 5,045,058 | 4,527,417 | 875% | 23,106,349 | 23,040,357 | (65,992) | 0% | 23,623,989 | 28,085,414 | 4,461,425 | 19% |
| د چاپيريال ساتنې ملي اداره | 164,900 | 180,000 | 15,100 | 9% | 70,383 | 92,268 | 21,885 | 31% | 235,283 | 272,268 | 36,985 | 16% |
| د ملکي هوانوردۍ اداره | - | 508,499 | 508,499 | 0% | - | - | - | 0% | - | 508,499 | 508,499 | 0% |
| د نوی کابل خپلواک بورډ | - | - | - | 0% | 213,458 | 118,800 | (94,658) | -44% | 213,458 | 118,800 | (94,658) | -44% |
| د افغانستان برشنا شرکت | - | - | - | 0% | 2,389,748 | 7,266,133 | 4,876,386 | 204% | 2,389,748 | 7,266,133 | 4,876,386 | 204% |
| د جيودوزي او کارتوګرافي رياست | 142,833 | 131,954 | (10,878) | -8% | 69,984 | 6,055 | (63,929) | -91% | 212,817 | 138,010 | (74,807) | -35% |
| د کابل ښاروالی | - | - | - | 0% | 1,585,264 | 3,495,030 | 1,909,765 | 120% | 1,585,264 | 3,495,030 | 1,909,765 | 120% |
| د اوبو رسولو او کاناليزاسيون رياست | - | - | - | 0% | 561,220 | 795,306 | 234,087 | 42% | 561,220 | 795,306 | 234,087 | 42% |
| د ښار جوړولو چارو وزارت | 242,015 | 250,000 | 7,985 | 3% | 1,470,857 | 1,183,498 | (287,359) | -20% | 1,712,872 | 1,433,498 | (279,374) | -16% |
| د اوبو او انرژۍ وزارت | 528,650 | 530,000 | 1,350 | 0% | 10,581,327 | 10,439,298 | (142,030) | -1% | 11,109,977 | 10,969,298 | (140,680) | -1% |
| د ترانسپورټ وزارت | 520,405 | 278,000 | (242,405) | -47% | 1,822,021 | 2,083,767 | 261,746 | 14% | 2,342,426 | 2,361,767 | 19,341 | 1% |
| د مخابراتو وزارت | 488,378 | 473,000 | (15,378) | -3% | 2,504,171 | 2,338,396 | (165,775) | -7% | 2,992,548 | 2,811,396 | (181,152) | -6% |
| د کانونو او پټروليم وزارت | 495,670 | 495,000 | (670) | 0% | 1,724,241 | 1,836,746 | 112,505 | 7% | 2,219,911 | 2,331,746 | 111,835 | 5% |
| د افغانستان د اتومي انرژي عالي کميسيون | 35,201 | 39,480 | 4,279 | 12% | - | - | - | 0% | 35,201 | 39,480 | 4,279 | 12% |
| **مجموعه** | **3,135,692** | **7,930,991** | **4,795,299** | **153%** | **46,099,022** | **52,695,653** | **6,596,631** | **14%** | **49,234,714** | **60,626,644** | **11,391,930** | **23%** |
| **د پوهنی سکتور** | | | | | | | | | | | | |
| د لوړو زده کړو وزارت | 3,095,063 | 4,000,000 | 904,937 | 29% | 2,927,725 | 4,099,002 | 1,171,277 | 40% | 6,022,788 | 8,099,002 | 2,076,214 | 34% |
| د پوهنې وزارت | 28,704,214 | 31,164,077 | 2,459,863 | 9% | 14,544,548 | 13,867,790 | (676,758) | -5% | 43,248,762 | 45,031,867 | 1,783,105 | 4% |

| سکتور - وزارت | عادی بودجه 1392 - 1393 | | | | پرمختیایی بودجه 1392 - 1393 | | | | دملی بودجی مجموعه 1392 - 1393 | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | 1392 | 1393 | توپیر په ارقامو | توپیر په% | 1392 | 1393 | توپیر په ارقامو | توپیر په% | 1392 | 1393 | توپیر په ارقامو | توپیر په% |
| د علومو اکاډمي | 151,328 | 170,563 | 19,235 | 13% | 36,808 | 20,376 | (16,432) | -45% | 188,136 | 190,939 | 2,803 | 1% |
| د بدني روزنې او سپورټ رياست | 265,792 | 228,000 | (37,792) | -14% | 460,077 | 364,854 | (95,222) | -21% | 725,868 | 592,854 | (133,014) | -18% |
| د افغانستان د ملی راديو تلويزيون لوی رياست | - | 343,000 | 343,000 | 0% | - | 188,754 | 188,754 | 0% | - | 531,754 | 531,754 | 0% |
| د افغانستان د فوټبال لوی رياست | - | 38,000 | 38,000 | 0% | - | 56,000 | 56,000 | 0% | - | 94,000 | 94,000 | 0% |
| د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت | 811,892 | 464,305 | (347,587) | -43% | 496,920 | 200,751 | (296,168) | -60% | 1,308,812 | 665,056 | (643,755) | -49% |
| دافغانستان کرکټ بورډ | - | - | - | 0% | - | 84,000 | 84,000 | 0% | - | 84,000 | 84,000 | 0% |
| **مجموعه** | **33,028,288** | **36,407,945** | **3,379,657** | **10%** | **18,466,078** | **18,881,528** | **415,450** | **2%** | **51,494,366** | **55,289,473** | **3,795,107** | **7%** |
| **د روغتيا سکتور** | | | | | | | | | | | | |
| د عامې روغتيا وزارت | 3,293,976 | 3,726,581 | 432,605 | 13% | 9,072,137 | 14,661,653 | 5,589,516 | 62% | 12,366,114 | 18,388,235 | 6,022,121 | 49% |
| **مجموعه** | **3,293,976** | **3,726,581** | **432,605** | **13%** | **9,072,137** | **14,661,653** | **5,589,516** | **62%** | **12,366,114** | **18,388,235** | **6,022,121** | **49%** |
| **د کرهنې او کليو د پراختيا سکتور** | | | | | | | | | | | | |
| د افغانستان د ځمکو مستقله اداره | - | 250,000 | 250,000 | 0% | - | 97,219 | 97,219 | 0% | - | 347,219 | 347,219 | 0% |
| د کليو د بيارغونې او پراختيا وزارت | 585,991 | 510,000 | (75,991) | -13% | 19,073,936 | 22,734,885 | 3,660,949 | 19% | 19,659,926 | 23,244,885 | 3,584,958 | 18% |
| د کرهنې اوبه لګولو او مالدارئ وزارت | 1,252,793 | 1,046,000 | (206,793) | -17% | 6,194,416 | 7,337,437 | 1,143,021 | 18% | 7,447,209 | 8,383,437 | 936,228 | 13% |
| د نشه يي توکو په وړاندې د مبارزې وزارت | 136,584 | 155,000 | 18,416 | 13% | 712,279 | 909,111 | 196,833 | 28% | 848,862 | 1,064,111 | 215,249 | 25% |
